د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائيوي بولټن

د افغانستان بانک ربعوار اقتصادي او احصائيوي بولټن

د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې(د ۲۰۱۶ کال د مارچ له ۲۰ څخه د۲۰۱۶ د جون تر ۲۰ پورې)

د افغانستان بانک

# اقتصادي
# او
# احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک ربعوار اقتصادي او احصائیوي بولټن

د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې( د ۲۰۱۶ کال د مارچ له ۲۰ څخه د۲۰۱۶ د جون تر ۲۰ پورې)

ابن سینا واټ

کابل

افغانستان

ټلیفون ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+

وب پاڼه: www.dab.gov.af

بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان نوی مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ (د مرغومې لومړۍ نېټه) پیلیږي. دا درې میاشتنی بولټن د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې( د ۲۰۱۶ کال د مارچ له ۲۰ نېټې څخه د ۲۰۱۶ کال د جون تر ۲۰ نېټې پورې) اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

**د محتوياتو لړليک**

**عمومي کتنه** ۱

**۱. نړيوال اقتصادي وضعيت** ۵

۱.۱ پرمختللي اقتصادونه ۵

۱.۱.۱ د امريکې د متحدو ايالتونو اقتصاد ۵

۲.۱.۱ د بريتانيې اقتصاد ۶

۳.۱.۱ د جرمني اقتصاد ۷

۴.۱.۱ د فرانسې اقتصاد ۸

۵.۱.۱ د جاپان اقتصاد ۹

**۲. راغوړېدلي اقتصادونه** ۱۰

۱.۲.۱ د چين اقتصاد ۱۰

۲.۲.۱ د هند اقتصاد ۱۰

۳.۲.۱ د ترکيې اقتصاد ۱۱

۲. د بانګې او پولي بازار بدلونونه ۱۵

۱.۲ پولي پروګرام ۱۵

۲.۲ د نقدينګی حجم ۱۶

۳.۲ خالصه نړيوالې زيرمې ۱۹

۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار ۱۹

۵.۲ د آزاد بازار فعاليت او د سياليت شرايط ۲۰

۱.۵.۲ د اسعارو ليلام ۲۰

۲.۵.۲ د بانګه ايزه پاڼو (کېپټال نوټ) ليلام ۲۰

۳.۵.۲ الزامي او اضافي زيرمې ۲۰

**۳. د انفلاسيون بهير او ليدلوری** ۲۵

۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بيې ۲۵

۱.۱.۳ د ملي مصرفي توکو د بيې د عمومي شاخص بدلونونه ۲۶

۲.۱.۳ د کابل د مصرفي توکو د بيې په شاخص کې بدلونونه ۲۹

۲.۳ د انفلاسيون لنډ مهاله ليد لوری ۳۴

۱.۲.۳ خطرونه ۳۴

**۴. د بهرني سکتور بدلونونه** ۳۷
۱.۴ د اداینو بیلانس ۳۷
۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس ۳۷
۲.۱.۴ پانګه ایز حساب ۳۷
۳.۱.۴ مالي حساب ۳۸
۴.۱.۴ د توکو سوداګري ۳۸
۲.۴ د سوداګرۍ لورى ۳۹
۳.۴ د سوداګرۍ ترکیب ۴۱
۱.۳.۴ د وارداتو ترکیب ۴۱
۲.۳.۴ د صادراتو ترکیب ۴۲
۴.۴ بهرني پوراینې ۴۲
۵.۴ خالصه نړیوالې زیرمې ۴۳
**۵. د مالي سکتور بدلونونه** ۵۱
۱.۵ د بودجې د اجراء نرخ ۵۱
۲.۵ د بودجې کسر ۵۱
۳.۵ د عوایدو راټولول ۵۱
۱.۳.۵ مالیاتي عواید ۵۲
۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید ۵۲
۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې ۵۲
۵.۵ لګښتونه ۵۳
**۶. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی** ۵۷
۱.۶ د بانکي نظام شتمنی ۵۷
۱.۱.۶ ناخالصه پورونه ۵۹
۲.۱.۶ د پور د زیان زېرمې ۵۹
۳.۱.۶ د کریډټ وېشنه ۵۹
۲.۶ د پورونو ډله بندي ۶۲
۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه ۶۲
۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه ۶۲
۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه ۶۳

۴.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه ۶۳
۵.۲.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات ۶۳
۶.۲.۶ پانګه اچونه ۶۳
۷.۲.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۶۳
۳.۶ پوراینې ۶۴
۱.۳.۶ امانتونه ۶۴
۲.۳.۶ پور اخیستنې ۶۵
۴.۶ نقدینګی (سیالیت) ۶۵
۱.۴.۶ پانګه ۶۶
۲.۴.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه) ۶۶
۵.۶ ګټورتیا (نافعیت) ۶۶
۶.۶ د اسعارو خطر ۶۷
۷.۶ د ټکټانې د نرخ خطر ۶۷

**د ګرافونو لیست**


۱.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (ربعه په ربعه د بدلونونو سلنه)........................................۵
۲.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د بیکارۍ نرخ ( د موسم پر اساس عیار شوی)..........................................۵
۳.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د مصرفي توکو د بیې د شاخص ښاري اوسط (ربعه په ربعه د بدلونونو سلنه)..........................................۶
۴.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د توکو او خدمتونو نړیواله سوداګري ( په میلیارد امریکایي ډالر)..........................................۶
۵.۱ ګراف: د بریتانیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( د موسم له مخې عیار شوی)..........................................۷
۶.۱ ګراف: د بریتانیې د انفلاسیون کلنی نرخ ..........................................۷
۷.۱ ګراف: د بریتانیې د نړیوالې سوداګرۍ بیلانس (په میلیون بریتانیوي پونډ)..........................................۷
۸.۱ ګراف: د جرمني د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( ربعه په ربعه) ..........................................۸
۹.۱ ګراف: د فرانسې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( ربعه په ربعه)..........................................۸
۱۰.۱ ګراف: د عامه او شخصي تقاضا له مخې د جاپان د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ..........................................۹
۱۱.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (ربعه په ربعه)..........................................۱۰
۱۲.۱ ګراف: د هند د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( کال په کال)..........................................۱۰
۱۳.۱ ګراف: د ترکیې د صادراتو، وارداتو او سوداګرۍ بیلانس..........................................۱۱
۱.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه..........................................۱۶
۲.۲ ګراف: پولي زیرمې، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه..........................................۱۶
۳.۲ ګراف: جاري امانتونه د M2 د ونډې په توګه (٪)..........................................۱۷
۴.۲ ګراف:د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه (٪)..........................................۱۷
۵.۲ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې، ۱۳۹۵ کال دویمه ربعه..........................................۱۸
۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه..........................................۱۸
۷.۲ ګراف: ناتصفیه شوې پانګه ایزې پانې، ۱۳۹۵ مالی کال دویمه ربعه..........................................۲۰
۱.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (کال په کال)..........................................۲۶
۲.۳ ګراف: اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د اوسط پیدا کولو میتود)..........................................۲۶
۳.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (ربعه په ربعه)..........................................۲۸
۴.۳ ګراف:د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (کال په کال)..........................................۳۰
۵.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (ربعه په ربعه)..........................................۳۲
۱.۴ ګراف: د جاري حساب د اداینو بیلانس..........................................۳۷
۲.۴ ګراف: د پانګه ایز حساب بیلانس..........................................۳۸
۳.۴ ګراف: د مالي حساب بیلانس..........................................۳۸
۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او د سوداګرۍ بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)..........................................۳۹

۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۳۹
۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه ........ ۴۰
۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۴۰
۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه ........ ۴۰
۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه ........ ۴۱
۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۴۱
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۴۲
۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه ........ ۴۲
۱۳.۴ ګراف: د بهرني پوراینې پرتله کول، د ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه او د ۱۳۹۵ کال دویمه ربعه ........ ۴۳
۱۴.۴ ګراف: د تېرو ربعو په اوږدو کې خالصه نړیوالې زیرمې (په میلیون امریکایي ډالر) ........ ۴۴
۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال لومړی ربعه ........ ۵۱
۲.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو پرتله، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۵۲
۳.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله کول، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۵۲
۴.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۵۲
۵.۵ ګراف: د ملي بودجې مالي سرچینې، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۵۳
۶.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې پرتله، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۵۳
۷.۵ ګراف: د حکومت د ټولیز لګښتونو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ........ ۵۳
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنی کې د بانکونو د ګروپونو ونډه ........ ۵۸
۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه ........ ۵۹
۳.۶ ګراف: د پورونو د پورټوفولیو کیفیت ........ ۶۲
۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ کې د خپل منځي طلباتو ونډه ........ ۶۳
۵.۶ ګراف: پوراینې ۴.۴۶ میلیارده افغانی راکمې شوي دي ........ ۶۴
۶.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب ........ ۶۵
۷.۶ ګراف: په افغانی ایښودل شوي امانتونه ........ ۶۵
۸.۶ ګراف: امانتونه ۳.۰۶ سلنه زیات شوي دي ........ ۶۵
۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي ........ ۶۵
۱۰.۶ ګراف:د بانکي سکتور ګټورتیا ........ ۶۷
۱۱.۶ ګراف: له شتمنی ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه ........ ۶۷
۱۲.۶ ګراف: نهایي خالصه ټکټانه ........ ۶۷

د جدولونو لیست

۱.۲ جدول: د نقدینه ګۍ حجم، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ....... ۱۸
۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال) ....... ۲۷
۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه) ....... ۲۹
۳.۳ جدول: د کابل عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال) ....... ۳۱
۴.۳ جدول: د کابل عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه) ....... ۳۳
۱.۴ جدول: د افغانستان د ادباینو بیلانس ( په میلیونه ډالر) ....... ۴۵
۲.۴ جدول: د توکو سوداګري ( په میلیون ډالر) ....... ۴۵
۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورى، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه ....... ۴۶
۴.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورى، ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه ....... ۴۶
۵.۴ جدول: بهرنۍ پوراینې، ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه ....... ۴۷
۶.۴ جدول: خالصه نړیوالې زیرمې، ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه ....... ۴۷
۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ او پوراینې ترکیب ....... ۵۸
۲.۶ جدول: د کریډټ سکتوري وېش ....... ۶۱
۳.۶ جدول: د بانکي نظام د ټینګښت مهم شاخصونه ....... ۶۶
۴.۶ جدول: د ګټې/زیان جدول ....... ۶۷

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



خلیل صدیق

د افغانستان بانک لوی رئیس



واحد الله نوشیر

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



محمد قسیم رحیمي

د افغانستان بانک دویم مرستیال



## د لوی رئیس پیغام

”د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه د ټولنې د ډېرو زیانمننونکو برخو ساتنه ده چې دا چاره د سالم او اغیـزنـاکـه پـولـي سیاست د تطبیقولو له لارې چې تـمـرکـز یې د بیو پر ثبات (د بانک لومړني هدف) باندې دی، ترسره کیږي.“

## عمومي کتنه

د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له امنیتي ننګونې او سیاسي او اقتصادي نا ډاډمنیتا سره سره د هېواد اقتصاد ښه شوی دی. په هېواد کې د اقتصادي ودې د ښه کیدو مهم لاملونه احتیاطي مالیاتي سمونونه، په وارداتو باندې ډېرې بندیزونه او خپل هېواد ته د ګڼ شمېر ګډوالو راستنیدل ګڼل کیږي. همدا ډول د کرنې سکتور په بهرنۍ او کورنۍ پانګه اچونه کې د معتدله زیاتوالی له امله پراخه شوی دی.

د ۱۳۹۵ مالي کال لومړی شپږ میاشتې د کورني عوایدو په راټولیدو کې د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. سربېره پر دې افغانستان توانیدلی دی چې د نړۍ د سوداګرۍ ادارې ته لار ومومي او په بریالیتوب سره د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) د کارکوونکو د کړنو د ارزونې پروګرام بشپړ او د پیسو د نړیوال صندوق په یو نوي درې کلن پروګرام باندې موافقې ته ورسیږي.

په افغانستان کې د انفلاسیون لوړیدونکی بهیر چې د ۱۳۹۴ مالي کال په نیمایي کې پیل شوی او د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې هم دوام لري چې له امله یې عمومي انفلاسیون ۵.۹۶ سلنې ته (کال په کال) لوړ شوی دی. د مصرفي توکو بیې هم د بیلابېلو عواملو له امله زیاتې شوي دي. لومړی:په افغانستان کې د مصرفي توکو د بیې د شاخص د انفلاسیون د زیاتیدو اصلي لامل په نړیواله بازارونو کې د نفتو د بیو زیاتوالی دی چې د تیرې ربعې په پرتله د نفتو د بیو ۴۷.۳ سلنه زیاتوالي له امله د توکو بیې هم لوړې شوي دي. دویم: د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګرۍ کچې ( په ځانګړې توګه د وارداتو ) کموالی د دویمې ربعې په اوږدو کې د بیو د لوړیدو یو بل لامل ګڼل کیږي. د پولې پر سر د ځینو ستونزو د راپیدا کیدو په پایله کې له پاکستان څخه د وارداتو کچه د پام وړ راټیټه شوې ده.

د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ ربعې په اوږدو کې د پام وړ منفي ودې وروسته په ګردښت کې پیسو او پولي زېرمو په دویمه ربعه کې ۵ سلنه مثبته وده تجربه کړې ده. د دویمې ربعې په پای کې پولي زېرمې (د افغانستان بانک د عملیاتي هدف) په توګه ۲۲۳.۱۵۱ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. حال دا چې په ګردښت کې پیسې د افغانستان بانک د ضمني هدف په توګه ۱۹۹.۲۵۷ میلیونه افغانۍ وې.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې(M1) د ارزونې لاندې ربعې په پای کې ۳۸۰،۲۸۴ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۳.۷۱ سلنه وده یې ( ربعه په ربعه) ثبت کړې ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) هم ورته بهیر درلودلی دی چې ۳.۷۶ سلنه (ربعه په ربعه) وده ښکار کوي او کچه یې د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۴۰۹،۱۰۴ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. په ورته وخت کې د افغانستان بانک خالصه نړیواله زېرمې (NIR) د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ۴.۰۶ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۶،۸۱۲.۲۶ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

د جاري حساب کسر د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې راکم شوی دی چې د جاري حساب په کسر کې د دې بدلونونو ستر لاملونه د توکو او خدمتونو د وارداتو کموالی، د جاري لیږدونو ډېریدنه، د عوایدو په حساب کې د اداینو زیاتوالی چې له کبله یې د پانګه اچونې عواید راکم شوي دي، ګڼل کیږي. په ټولیزه توګه دواړه صادرات او واردات په ترتیب سره د ۴ او ۲۰ سلنه ټیټوالي په درلودلو سره ۱۱۶.۹۹ میلیونه او

۱،۴۰۲.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي. د وارداتو په کچه کې د ټیټوالي اصلي لامل بهرنیو توکو په ځانګړې توګه پانګه ایزه توکو، صنعتي تولیداتو او تیلو او شحمیاتو ته د کورنۍ تقاضا کموالی په ګوته شوی دی. په ورته وخت کې د پانګه ایز حساب د ادباینو بیلانس د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۳۰ سلنه کموالی ښکاره کوي. د مالي حساب د ادباینو بیلانس خالصه بهرنۍ جریان د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲۱۳.۷۰ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوی دی چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې د ۸۴.۴۷ میلیونه امریکایي ډالرو خالص بهرني جریان په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان ټولیزه مالي شتمنی ( د افغانانو لخوا طلبات) د ارزونې لاندې موده کې ۹۱.۰۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲۰.۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

# ۱

# وضعيت اقتصادي ولايات

# ۱
# نړیوال اقتصادي وضعیت

د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) پر بنسټ، د نړۍ اقتصاد د ۲۰۱۶ کال د جون له ۲۳ نیټې راهیسې ښه شوی دی. ډېری پرمختللو اقتصادونو کمزوره وده درلوده، حال دا چې اقتصادي ودې په ټولو غوړېدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو کې مختلطه بهیر ښکاره کاوه. مالي او د نفتو بازارونه ښه شوي دي چې دې ښه والي د ۲۱۰۶ کال د فبروری له نیمايي څخه د جون تر ۲۳ نیټې پورې دوام وموندہ، له همدې امله داسې انګېرل کیده چې بریتانیا به په اروپايي ټولنه کې پاتې شي.

په همدې ترتیب، د بریتانیې د ټول پوښتنې (رفراندم) پایلې مالي بازارونه حیرانه او په پایله کې په ټوله نړۍ کې د پانګې (اکویټي) بیې راټیټې کړې دي.

د لوی اقتصاد د لید لوري پر بنسټ، د بریکسټ (Brexit) د رایو معنی په اقتصادي، سیاسي او اداري ناډاډمنتیا کې د پام وړ زیاتوالی دی چې تمه کیږي دا کار د لوی اقتصاد په فعالیتونو په ځانګړې توګه د اروپا د پرمختللو اقتصادونو د لوی اقتصاد په کړنو باندې منفي اغیزې پریږدي.

له بلې خوا، د پیسو د نړیوال صندوق(IMF) د وړاندوینې له مخې، تمه کیږي چې د نړۍ تولید په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳.۱ سلنه (کال په کال) زیات شي. همدا ډول تمه کیږي چې د پرمختللو اقتصادونو کورني ناخالصه تولیدات په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۱.۸ سلنه، د غوړیدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو تولیدات ۴.۱ سلنه زیاتوالی ومومي.

## ۱.۱پرمختللي اقتصادونه

### ۱.۱.۱ د امریکې د متحده ایالاتو اقتصاد

د امریکې د متحده ایالتونو د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱.۱ سلنې ته زیات شوی دی چې د تېرې ربعې د ۰.۸ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په دویمه ربعه کې د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو د زیاتیدو عمده لامل د مصرف کوونکو لوړ لګښت په ګوته شوی دی؛ په همدې ترتیب د مصرف کوونکو په لګښت کې دا زیاتوالی تر یو حده پورې د توکو د موجودۍ د پانګه اچونې په کمیدو سره جبران شوي. له همدې امله د توکو د موجودۍ له پانګونې پرته د کورني تولید حقیقي نهايي خرڅلاو په دویمه ربعه کې ۲.۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۱.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ
(ربعه په ربعه د بدلونونو سلنه)
سلنه: په کلني نرخ د موسم پر اساس عیار شوی




سرچینه: د اقتصادي تحلیل اداره، د امریکې د متحده ایالاتو د سوداګرۍ مدیریت

د امریکې د متحده ایالاتو د بیکارۍ نرخ د تېرې میاشتې له ۴.۷ سلنې څخه د ۲۰۱۶ کال د جون په میاشت کې ۴.۹ سلنې ته زیات شوی دی. د امریکې د بیکارۍ نرخ د جون میاشت کې ۰.۰۰۱ سلنې ته راکم شوی دی، حال دا چې د اپریل میاشت کې یې د بیکارۍ نرخ ۵ سلنه ؤ.

۲.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو د بیکارۍ نرخ
(د موسم پر اساس عیار شوی)




سرچینه: د اقتصادي تحلیل اداره، د امریکې د سوداګرۍ وزارت

د امریکې د متحده ایالاتو د لګښت کوونکو د بیې شاخص (د موسم له مخې عیار شوی) ټولو ښاري لګښت کوونکو لپاره د ۲۰۱۶ کال په جون میاشت کې ۰.۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د خوراکي توکو شاخص ۰.۱ سلنه راټیټ شوی، خو د انرژۍ شاخص بیا د بنزینو په شاخص کې د ۳.۳ سلنه زیاتوالي له امله ۱.۳ سلنې ته لوړ شوی دی. د نورو ټولو توکو شاخص د جون تر پایه پورې په ۱۲ میاشتو کې ۱ سلنه زیاتوالی لري، حال دا چې دې توکو د می میاشتې تر پایه پورې په ۱۲ میاشتو کې ورته زیاتوالی درلوده. په همدې ترتیب، د اپریل میاشت کې د لګښت کوونکو د بیې شاخص (د موسم له مخې عیار شوی) ټولو ښاري لګښت کوونکو لپاره ۰.۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۳.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو د مصرفي توکو د بیې د شاخص ښاري اوسط (ربعه په ربعه د بدلونونو سلنه) د موسم له مخې عیار شوي




سرچینه: د کارکوونکو د احصائیې اداره، د امریکې د متحده ایالاتو د کار وزارت

د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې سوداګرۍ (د توکو او خدمتونو) میاشتنی کسر د می د میاشتې له ۴۱ میلیارده امریکایي ډالرو څخه د ۲۰۱۶ کال په جون میاشت کې ۴۴.۵ میلیارده امریکایي ډالرو ته زیات شوی دی چې ۸.۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې دې کسر د اپریل د ۳۷.۴ میلیارده امریکایي ډالرو په پرتله په جون میاشت کې ۹.۶ سلنه زیاتوالی درلوده. په بله وینا، د ۲۰۱۶ په جون کې ټولیزه صادرات ۱۸۳.۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې ټولیزه واردات په همدې میاشت کې ۲۲۷.۷ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیده چې په توکو او خدمتونو کې ۴۴.۵ میلیارده امریکایي ډالره کسر ښکار کوي. د خوراکي توکو کسر ۶۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې میاشتې په پرتله په جون میاشت کې د ۳.۸ میلیارده امریکایي ډالره زیاتوالی لري، خو د خدمتونو په سکتور کې بیا په ورته میاشت کې ۲۱.۵ میلیارده امریکایي ډالرو ډېریدنه راغلې ده چې د تیرې دورې په پرتله ۰.۳ میلیارده امریکایي ډالره زیاتوالی ښکاره کوي.

۴.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو د توکو او خدمتونو نړیواله سوداګري (په میلیارد امریکایي دالر، د میاشتو او موسم پر اساس عیار شوی)




سرچینه: د اقتصادي تحلیل اداره، د امریکې د سوداګرۍ وزارت

### ۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد

اټکل کیده چې د بریتانیې کورني ناخالصه تولیدات به د ۲۰۱۶ کال په جون میاشت کې ۰.۶ سلنې ته زیات شي، حال دا چې د بریتانیې کورني ناخالصه تولیدات په تیره دوره کې ۰.۴ سلنه زیات شوی ؤ. په دویمه ربعه کې د صنعتي سکتور د دوو عمده ډلو تولید لوړ شوی دی. خدمتونه ۰.۵ سلنه او تولیدات ۲.۱ سلنه زیات شوي دي. بر عکس په ودانیز او کرنیز سکتورونو کې په ترتیب سره ۰.۴ سلنه او ۱ سلنه کموالی راغلی دی.

۵.۱ ګراف: د بریتانیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ
(د موسم له مخې عیار شوی)




سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

د بریتانیې د بیکارۍ نرخ د ۲۱۰۶ کال په جون میاشت کې ۴.۹ سلنه ثبت شوی ؤ چې د تیرې ربعې د ۵.۱ سلنې په پرتله ۰.۰۰۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بریتانیې د انفلاسیون کلنی نرخ د ۲۰۱۶ کال په جون میاشت کې ۰.۵ سلنې ته زیات شوی دی، حال دا چې دې نرخ په تیره دوره کې ۰.۳ سلنه زیاتوالی درلوده. د جون د انفلاسیون نرخ د روان کال د تیرې میاشتې په پرتله لږ څه لوړ شوی دی، خو دا کچه په تاریخي ډول نسبتاً کمه ده. د جون میاشت کې د انفلاسیوني نرخ د لوړیدو اصلي لاملونه د موټرونو د تیلو لوړې بیې، د الوتکو لوړې کرایې او د بیلا بیلو تفریحي او کلتوري توکو او خدمتونو لوړې بیې په ګوته شوي دي. د انفلاسیون د نرخ زیاتوالی تر یوې اندازې پورې د فرنیچرو او اثاثیې او استوګنې د خدمتونو د بیو په کمیدو سره جبران شوی دی.

۶.۱ ګراف: د بریتانیې د انفلاسیون کلنی نرخ




سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

د بریتانیې د نړیوالې سوداګرۍ کسر د ۲۰۱۶ کال په دویمه ربعه کې ۱۲.۳ میلیارده پاونډه ته رسیږي چې د تیرې دورې د ورته ربعې د ۱۲ میلیارده پاونډه په پرتله ۰.۳ میلیارده پاونډه زیاتوالی ښکاره کوي. د بریتانیې نړیوال سوداګریز کسر د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د ارزونې لاندې کال په دویمه ربعه کې ۶.۱ میلیارده پاونډه ( ۹۸.۴ سلنه) زیاتوالی ښکاره کوي.

۷.۱ ګراف: د بریتانیې د نړیوالې سوداګرۍ بیلانس
(په میلیارد بریتانیوي پاونډه)




سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

### ۳.۱.۱ د جرمني اقتصاد

د جرمني اقتصاد د تیرې دورې په پرتله د ۲۰۱۶ کال په دویمه ربعه کې ( د بیې، کلیزې او موسم له مخې عیار شوي نرخ پر بنسټ) ۰.۴ سلنه وده کړې ده. په لومړۍ ربعه کې د جرمني د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ۰.۷ سلنه ثبت شوی ؤ. د جرمني د نړیوالې سوداګرۍ بیلانس په همدې موده کې د دې هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو له ودې سره د پام وړ مرسته کړې ده. د کال په کال پرتلې له مخې، د جرمني د کورني ناخالصه تولیداتو وده د ۲۰۱۶ کال په دویمه ربعه کې ۳.۱ سلنې ته زیاته شوې ده چې پنځو کلونو کې تر ټولو زیاته وده ګڼل کیږي.

د جرمني ټولیزه کورنۍ تقاضا د لومړۍ ربعې په پرتله لږ څه کمه شوې ده چې اقتصادي وده یې ۰.۰۰۲ سلنې ته راکمه

کړې ده. سربېره پر دې، د توکو په موجودی کې لږ څه کموالی راغلی ده چې د کورني ناخالصه توليداتو په وده باندې يې ( ۰.۰۰۱ – سلنه ) منفي اغيزه کړې ده.

۸.۱ ګراف: د جرمني د کورني ناخالصه توليداتو د ودې نرخ ( ربعه په ربعه)
(د موسم او کليزې پر اساس عيار شوی)




سرچينه: د فدرال د احصائيې اداره (Destatis)

د جرمني د بيکارۍ نرخ د جون مياشت کې ۴.۲ سلنه ثبت شوی ؤ چې د اپريل مياشتې راهيسې ثابت پاتې دی. د جون مياشت کې د جرمني کاري ځواک ۴۲.۷۱ ميليونه کسانو ته رسيږي چې ۴۰.۹۱ ميليونه وګړي يې دنده لري، حال دا چې ۱.۸ ميليونه وګړي يې بيکاره دي. د جنورۍ مياشت کې د ټوليز کارګرانو شمېر ۴۲.۶۴ ميليونه ته رسيږي چې ۴۰.۷ سلنه يې په دنده ګمارل شوی، خو ۱.۸۵ ميليونه وګړي يې د دندو په پيدا کولو برلاسي شوي نه دي. د جنورۍ راهيسې ۰.۰۵ ميليونه بې کاره وګړي په دنده ګمارل شوي دي.

د جرمني د انفلاسيون کلنی نرخ د جون مياشت کې ۰.۳ سلنې ته رسيږي چې د تيرې مياشتې د ۰.۱ سلنې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي، حال دا چې په اپريل کې دا نرخ منفي ۰.۱ سلنه ثبت شوی دی. د جون مياشت کې د خوراکي توکو د انفلاسيون نرخ ۰.۱ سلنه، د انرژۍ ( د کورنی انرژۍ او د موټرو د تيلو) د انفلاسيون نرخ منفي ۶.۴ سلنه او د خدمتونو د انفلاسيون نرخ ۱.۴ سلنې ته رسيده، حال دا چې په تيره مياشت کې د خوراکي توکو، انرژۍ او خدمتونو د انفلاسيون نرخونه په ترتيب سره ۰.۰ سلنه، منفي ۷.۹ سلنه او ۱.۲ سلنه ؤ.

د جرمني د توکو د صادراتو کچه ۱۰۶.۸ ميليارده يورو ته رسيږي، حال دا چې د وارداتو کچه يې د ۲۰۱۶ کال په جون کې ۸۲ ميليارده يورو ثبت شوې ده چې ۲۴.۸ ميليارده يورو ډېريدنه ښکاره کوي. د مې مياشت کې د توکو د صادراتو کچه ۹۷.۲ ميليارده يورو او د توکو د وارداتو کچه ۷۶.۲ ميليارده يورو ته رسيږي چې ۲۱ ميليارده يورو سوداګريزه ډېريدنه ښکاره کوي. د اپريل مياشت کې د جرمني صادرات ۱۰۴.۳ ميليارده يورو او واردات يې ۷۸.۷ ميليارده يورو ته رسيږي چې د ۲۵.۶ ميليارده يورو ډېريدنه ښکاره کوي.

### ۴.۱.۱ د فرانسې اقتصاد

د فرانسې اقتصادي وده د ۲۰۱۶ کال په دويمه ربعه کې (۰.۰ سلنه) ثابته پاتې ده، حال دا چې په تيره ربعه کې د فرانسې کورني ناخالصه توليدات ۰.۷ سلنه وده ښکاره کوي. په دويمه ربعه کې کورنی لګښت د پام وړ راټيټ شوی دی چې د لومړۍ ربعې له ۱.۲ سلنې څخه ۰.۰ سلنې ته رسيږي. د ناخالصه ثابتې پانګې وده د تيرې ربعې له ۱.۳ سلنې څخه په دويمه ربعه کې منفي ۰.۲ سلنې ته راښکته شوې ده.

نهايي کورنی تقاضا ( د موجودی له بدلونونو پرته) د لومړۍ ربعې له ۰.۰۱ سلنې وروسته په دويمه ربعه کې د کورني ناخالصه توليداتو د ودې ۰.۰۰۱ سلنه جوړوي. د توکو د موجودی بدلونونو د تيرې ربعې له منفي ۰.۰۰۱ سلنې وروسته په دويمه ربعه کې د کورني ناخالصه توليداتو د ودې سره (منفي۰.۰۰۷ سلنه ) منفي مرسته کړې ده.

۹.۱ ګراف: د فرانسې د کورني ناخالصه توليداتو د ودې نرخ( ربعه په ربعه)
( د موسم پر اساس عيار شوی)




سرچينه: د احصائيې او اقتصادي چارو د څېړنې ملي انسټيټوټ(INSEE)

په دویمه ربعه کې د فرانسې د لویو ښارونو او له هېواد څخه د بهر ادارو د بیکارۍ نرخ ۹.۹ سلنه ثبت شوی دی چې تېرې ربعې د ۱۰.۲ سلنې په پرتله ۰.۰۰۳ سلنه کموالی ښکاره کوي. د فرانسې په لویو ښارونو کې د بېکارۍ نرخ ۹.۶ سلنې ته رسیږي حال دا چې دا نرخ په تیره ربعه کې ۹.۹ سلنه ؤ.

د فرانسې د مصرفي توکو د بیې شاخص د ۲۰۱۶ کال په جون کې ۰.۱ سلنه زیات شوی دی، حال دا چې په تیره میاشت کې یې ۰.۲ سلنه زیاتوالي درلوده. د مصرفي توکو د بیې شاخص په اپریل میاشت کې له ۰.۱ سلنې ودې ورسته په می میاشت کې ۰.۴ سلنې ته زیات شوی دی. د تیرې میاشتې په پرتله په جون میاشت کې د انفلاسیون نرخ د لوړیدو اصلي لاملونه د پترولو د تولید لوړه بیې، د ځینو خدمتونو د بیو موسمي راګرځیدنې چې تر یوه بریده پورې د تازه خوړو او تولیدي محصولاتو د بیو په موسمي کموالي سره جبرانیږي، ګڼل کیږي.

د روان کال په دویمه ربعه کې د فرانسې صادرات ۰.۳ سلنه لږ څه ټیټوالی ښکاره کوي، حال دا چې د فرانسې د صادراتو نرخ په تیره ربعه کې هم په ورته سلنه کې پاتې شوې ده. له بلې خوا، په دویمه ربعه کې د فرانسې په وارداتو په ځانګړې توګه په اومه هایدروکاربنونو او تولیدي محصولاتو کې ۱.۳ سلنه د پام وړ کموالی ثبت شوی دی، حال دا چې په تیره ربعه کې د فرانسې واردات ۰.۵ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي.

**۵.۱.۱ د جاپان اقتصاد**

د جاپان اقتصادي وده د تیرې ربعې د ۰.۵ سلنه زیاتوالي په پرتله د ۲۰۱۶ کال په دویمه ربعه کې ثابته پاتې ده. د تیر کال په دویمه ربعه کې د جاپان کورني ناخالصه تولیدات ۰.۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې کورني تقاضا د تیرې ربعې د ۰.۴ سلنه زیاتوالي په پرتله په دویمه ربعه کې ۰.۳ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

۱۰.۱ ګراف: د عامه او شخصي تقاضا له مخې جاپان د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( ربعه په ربعه)




سرچینه: د جاپان د کابینې دفتر

د جاپان د موسم پر اساس عیار شوی د بیکارۍ نرخ د تیرې ربعې د ۳.۲ سلنې په پرتله په جون میاشت کې ۳.۱ سلنې ته رسیږي، حال دا چې د جاپان د بیکارۍ نرخ په اپریل میاشت کې هم ۳.۲ سلنه ؤ. شمېرې ښیي چې په جاپان کې د کار وضعیت د ښه کیدو په حال کې دی چې د بیکاره وګړو شمېر یې د تیرې ربعې له ۲.۱۲ سلنې څخه په جون میاشت کې ۲.۰۸ سلنې ته رسیږي.

د روان کال په جون میاشت کې د جاپان د انفلاسیون کلنی نرخ منفي ۰.۴ سلنې ثبت شوی دی، حال دا چې په تیره میاشت کې یې کچه منفي ۰.۵ سلنه وه. د جاپان د انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۶ کال په دویمه ربعه کې منفي ۰.۴ سلنې ته رسیږي، حال دا چې په لومړۍ ربعه کې یې د انفلاسیون نرخ د تیرې دورې په پرتله ثابته پاتې ؤ او ۰.۰ سلنې ته رسیده.

د جاپان د صادراتو ټولیزه کچه د ۲۰۱۶ کال په لومړۍ نیمایي کې ۳۴،۵۱۸.۶۱۶ میلیارده ین ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۸.۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي، حال دا چې د جاپان واردات د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۱۷.۲ سلنه کموالي په درلودلو سره ۳۲،۷۰۸.۹۸۲ میلیارده ین ته رسیږي چې ۱،۸۰۹.۶۳۴ میلیارده ینه

سوداګریزه ډېریدنه ښکاره کوي. د میاشتو پر بنسټ، د جاپان ټولیزه صادرات په جون میاشت کې ۶،۰۲۵.۸۱۶ میلیارده ینه او ټولیزه واردات یې ۵،۳۳۵.۱۴۵ میلیارده ینه ثبت شوي دي چې ۶۹۰.۶۷۱ میلیارده ینه سوداګریزه ډېریدنه ښکاره کوي.

**۲.۱ راغوړېدلي اقتصادونه**

**۱.۲.۱ د چین اقتصاد**

د چین اقتصاد د ۲۰۱۶ کال په دویمه ربعه کې له تمې زیاته ۱.۸ سلنه وده کړې ده چې د لومړۍ ربعې د ۱.۲ سلنې ودې په پرتله ۰.۰۰۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د زیاتیدو اصلي لاملونه د حکومت د لګښتونو او د صنعتي کړنو زیاتوالی په ګوته شوي دي. تمه کیږي چې په دریمه ربعه کې د کورني ناخالصه تولیداتو کمیدنه په څلورمه ربعه کې د وروستیو سیلابونو د بیا رغونې د چارو له امله را تازه شي.

۱۱.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ( ربعه په ربعه)




سرچینه: د چین د احصائیې ملي اداره

د چین د ښاري اوسیدونکو د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال د جون میاشتې په پای کې ۴.۰۵ سلنه ثبت شوی دی چې د همدې کال د لومړۍ ربعې د ۴.۰۴ سلنې په پرتله لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۶ کال په لومړي نیمایي کې چین ۷.۱۷ میلیونه نوې ښاري دندې رامنځ ته کړې.

د چین د مصرفي توکو د بیې شاخص په جون میاشت کې ۱.۹ سلنه (کال په کال) زیاتوالی لري. د خوراکي توکو بیې ۴.۶ سلنه لوړې شوي دي، حال دا چې د نا خوراکي توکو بیې ۱.۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د روان کال په لومړۍ نیمایي کې، د مصرفي توکو بیې د تیر کال د ورته مودې په پرتله په اوسط ډول ۲.۱ سلنې ته لوړې شوي دي.

د چین صادرات د ۲۱۰۶ کال په لومړۍ نیمایي کې ۹۸۵.۴۸ میلیارده ډالره او واردات یې ۷۲۷.۱۹ میلیارده ډالرو ته رسیږي چې (کال په کال) ۲۵۸.۲۹ میلیارده امریکایي ډالره ډېریدنه ښکاره کوي. همدا ډول د دواړو صادراتو او وارداتو کچې د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې په ترتیب سره ۷.۷ سلنې او ۱۰.۲ سلنې ته راښکته شوي دي.

**۲.۲.۱ د هند اقتصاد**

د هند د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۲۰۱۶ په دویمه ربعه کې ۷.۱ سلنه اټکل شوې ده. د کرنې، ځنګلونو او کب نیونې سکتورونه د تیر کال د دویمې ربعې د ۲.۶ سلنې ودې په پرتله د ارزونې لاندې کال په دویمه ربعه کې ۱.۸ سلنه وده ښکاره کوي. د تولیدي سکتور وده ۹.۱ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۷.۳ سلنې ودې په پرتله زیاتوالی ښيي. د بیارغونې سکتور د تیر کال د ورته مودې د ۵.۶ سلنې په پرتله ۱.۵ سلنه زیات شوی دی او کان کیندنه د تیر کال د ورته مودې د ۸.۵ سلنه ودې په پرتله منفي ۰.۴ سلنه وده لري.

۱۲.۱ ګراف: د هند د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ،
د موسم له مخې عیار شوی (کال په کال)




سرچینه: د هند د احصائیې او د پروګرام د تطبیق وزارت

د هند انفلاسیون کلني نرخ د جون میاشت کې ۶.۱۳ سلنې ته رسیږي، حال دا چې دا نرخ په تیره میاشت کې ۶.۵۹ سلنې

ته رسيده. په همدې ترتيب د ۲۰۱۶ کال په دويمه ربعه کې د هند د انفلاسيون نرخ د تيرې ربعې د ۵.۷ سلنې په پرتله ۶.۲ سلنه ثبت شوی دی.

د روان کال په دويمه ربعه کې د هند د صادراتو کچه ۶۶.۵ ميلیارده ډالرو ته رسيږي، په داسې حال کې چې د توکو واردات يې ۸۳.۴ ميلیارده ډالره ثبت شوي دي چې ۱۶.۹ ميلیارده سوداګريز کسر (په توکو کې) ښکاره کوي. د تير کال په دويمه ربعه کې د هند د صادراتو کچه ۶۷.۸ ميلیارده ډالره او د وارداتو کچه يې ۹۸.۴ ميلیارده ډالرو ته رسيږي چې ۳۰.۶ ميلیارده ډالره سوداګريز کسر ( په توکو کې) ښکاره کوي. همدا ډول د هند د توکو د صادراتو او وارداتو کچه د تير کال د ورته ربعې په پرتله د روان کال په دويمه ربعه کې کمه شوې ده او د سوداګرۍ د بيلانس کسر يې هم د تير کال د دويمې ربعې په پرتله ۸۱.۱ سلنه کموالی ښکاره کوي.

### ۳.۲.۱ د ترکيې اقتصاد

د ۲۰۱۶ کال په لومړۍ نيمايي کې د ترکيې کورني ناخالصه توليداتو معتدله وده درلوده چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۴ سلنه ټيټوالی لري. د کورني لګښتونو په زياتيدو سره سره په لومړۍ ربعه کې د ترکيې د کورني ناخالصه توليداتو وده د توکو د موجودۍ د کمې راټوليدنې له کبله ټيټه پاتې ده. د ترکيې د کورني ناخالصه توليداتو د ودې کلنی نرخ په لومړۍ ربعه کې ۳.۳ سلنه (ربعه په ربعه ) ثبت شوی دی.

د ترکيې د بيکارۍ نرخ د می په مياشت کې ۱۰.۲ سلنې ته رسيږي، حال دا چې دا نرخ په تيره مياشت کې ۹.۸ سلنې ته رسيده او د جنورۍ مياشت کې يې ۱۰.۱ سلنه نرخ ثبت کړی دی. د می مياشت کې د ځوانانو لپاره د بيکارۍ نرخ ۱۹.۱ سلنې او د ناکرنيز سکتور اړونده بيکاره وګړو نرخ ۱۲.۲ سلنې ته رسيده.

د ترکيې د مصرفي توکو د بيې شاخص په جون مياشت کې ۰.۴۷ سلنې ( د بدلون مياشتني نرخ) ته لوړ شوی دی. د می په مياشت کې يې نرخ ۰.۵۸ سلنه ثبت شوی، حال دا چې په اپريل کې يې نرخ ۰.۷۸ سلنې ته رسيږي. د جون مياشت کې تر ټولو لوړ مياشتنی زياتوالی خوراکي توکو او غير الکولي مشروباتو درلوده چې ۱.۱۶ سلنه زياتوالی ښکاره کوي، حال دا چې تر ټولو زيات مياشتنی کموالی په پوښاک او بوټونو کې راغلی ؤ چې کموالی يې ۱.۳۳ سلنې ته رسيږي.

د ترکيې ( د موسم او کليزې له مخې عيار شوي) صادرات د جون مياشت کې ۱۲.۳ ميلیارده امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تيرې مياشتې په پرتله ۱.۲ سلنه زياتوالی ښکاره کوي، حال دا چې واردات يې ۱۸.۲ ميلیارده ډالرو ته رسيږي چې د تيرې مياشتې په پرتله ۱۱.۹ سلنه زياتوالی په ګوته کوي. د جون مياشت کې ترکيې ۵.۹ ميلیارده سوداګريز کسر تجربه کړی دی. همدا ډول ترکيې په می او اپريل مياشتو کې په ترتيب سره ۴.۱ سلنه او ۴.۴ سلنه سوداګريز کسر ثبت کړی دی.

۱۳.۱ ګراف: د ترکيې د صادراتو، وارداتو او د سوداګرۍ بيلانس
( د موسم او کليزې پر اساس عيار شوی)




سرچينه: د ترکيې د احصائيې انسټيټوټ

# ۲

# د بانکي او پولي بازار بدلونونه

## ۲
# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

د پانګې او پولي بازار د بدلونونو څېرکی؛ پولي پروګرام، د نقدینګۍ حجم، خالصه نړیوالې زیرمې، د اسعارو د مبادلې نرخونو او د دې ترڅنګ د آزاد بازار عملیات او د سیالیت شرایط تر څېړنې لاندې نیسي.

په ګردښت کې پیسو (CIC) او پولي زېرمو (RM) د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړۍ ربعه کې د پام وړ منفي ودې وروسته په دویمه ربعه کې ۵ سلنه مثبته وده تجربه کړې ده. د دویمې ربعې په پای کې پولي زېرمې (د افغانستان بانک د عملیاتي هدف) په توګه ۲۲۳،۱۵۱ میلیونه افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې په ګردښت کې پیسې د افغانستان بانک د ضمني هدف په توګه ۱۹۹.۲۵۷ میلیونه افغانۍ ته رسیدې.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې(M1) د ارزونې لاندې ربعې په پای کې ۳۸۰،۲۸۴ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۳.۷۱ سلنه وده یې ( ربعه په ربعه) ثبت کړې ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) هم ورته بهیر درلودلی دی چې ۳.۷۶ سلنه (ربعه په ربعه) وده ښکار کوي او کچه یې د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۴۰۹،۱۰۴ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. د افغانستان بانک خالصه نړیواله زېرمې (NIR) د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۴.۰۶ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۶،۸۱۲.۲۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ ربعې په پرتله ۱.۲۱ سلنه راکم شوی دی.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې په ټولیزه توګه ۴۶۲.۲۰ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي څو په بازار کې د سیالیت د مدیریت ترڅنګ د اسعارو په وړاندې د افغانۍ بې ځایه او له حده زیات نوسانات راکم کړي. د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې کچه د ارزونې مودې په پای کې ۳۲.۲۶۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

### ۱.۲ پولي پروګرام

د پولي زېرمو (RM) کره مبلغ چې د کورني بیو د ثبات او د افغانستان بانک د لومړني موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پیسو د مقداري تیورۍ په کارولو سره ټاکل کیږي. له همدې کبله د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې لپاره کلني هدفونه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د اقتصادي ودې او انفلاسیون د تمو پر بنسټ ټاکل کیږي.

د رواني ربعې (دویمې ربعې) په اوږدو کې د پولي زیرمې او په ګردښت کې د پیسو د ودې کچې د تیرې ربعې په پرتله لوړې ټاکل شوي دي چې په ترتیب سره درې او څلور سلنې ته رسیږي. ټاکل شوي هدفونه د تیر کال د ورته ربعې په پرتله لږ څه زیاتوالي ښکاره کوي چې ټاکل شوې وده یې یو سلنې ته رسیږي.

خو په حقیقي ډول په ګردښت کې پیسې او پولي زېرمې د تیرې ربعې (۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ ربعې) او د تیر کال د ورته ربعې ( ۱۳۹۴ مالي کال دویمې ربعې) د حقیقي پولي زېرمو او په ګردښت کې د پیسو په پرتله لږ څه وده کړې ده چې د دې ربعې په اوږدو کې اوس هم له ټاکلي هدف څخه ټیټه ده چې د ارزونې لاندې کال کې په ترتیب سره ۱۹۹،۲۵۷ او ۲۲۳،۱۵۱ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

د افغانستان بانک په ۱۳۹۴ مالي کال کې د نقدینه ګۍ او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د اسمي نرخ د زیاتو نوساناتو د مخنیوی په موخه ټینګ پولي سیاست تر لاس

لاندې نیولی دی.

۱.۲ او ۲.۲ ګرافونه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې په ګردښت کې د پیسو او د پولي زیرمو کچې وړاندې کوي.

۱.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه
(د ۲۰۱۶ د مارچ له ۲۰ څخه د ۲۰۱۶ د جون تر ۲۰ پورې)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

۲.۲ ګراف: پولي زیرمې، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه
(د ۲۰۱۶ د مارچ له ۲۰ څخه د ۲۰۱۶ د جون تر ۲۰ پورې)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۲ د نقدینګۍ حجم

۱.۲ جدول ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۳.۷۱ سلنې ودې په درلودلو سره (ربعه په ربعه) ۱۳،۶۰۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې د ۱۳۹۴ مالي کال په ورته موده کې د ۶.۲ سلنې ودې په درلودلو سره ۲۲،۰۵۸ میلیونه افغانۍ ته رسیده.

هغه پیسې چې د امانت اینبودونکو شرکتونو څخه بهر دي یا په ګردښت کې پیسې (CIC) د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) تر ټولوستره برخه (۵۰ سلنه) جوړوي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ ربعې په پرتله د همدې کال په دویمه ربعه کې ۴.۷۴ سلنه او د تیر کال د ورته ربعې په پرتله ۸.۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ او دویمې ربعې تر منځ په ګردښت کې د پیسو توپیر ۸ سلنې ته رسیږي، حال دا چې په ګردښت کې پیسې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پرتله د ارزونې لاندې کال په دویمه ربعه کې ۱۴،۸۳۰ میلیونه افغانۍ توپیر ښکاره کوي.

جاري امانتونه چې د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) بله ستره برخه جوړوي، د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په پای کې ۲.۶۷ سلنه وده تجربه کړې ده، حال دا چې د تیر کال په ورته ربعه کې یې ۴ سلنه وده درلوده چې د اوسنۍ ربعې په پرتله ۷،۲۲۷ میلیونه افغانۍ ټیټوالی ښکاره کوي.

د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) عرضه د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ ربعې له۳۹۴،۲۹۰ میلیونه افغانۍ او د تیر کال د ورته ربعې له ۳۸۱،۰۵۳ میلیونه افغانۍ څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴۰۹،۱۰۴ میلیونه افغانۍ ته زیاته شوې ده چې په ترتیب سره ۱۴،۸۱۴ میلیونه او ۲۸،۰۵۱ میلیونه افغانۍ توپیر په ګوته کوي. د سلنې له مخې دا توپیرونه د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ ربعې په پرتله ۳.۷۶ سلنه او د تیر کال د ورته ربعې په پرتله ۷.۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د اوسنۍ دورې شمېرې ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د پراخه مفهوم په توګه د پیسو تر ټولو ستره برخه (۹۳ سلنه) جوړوي.

پيسه وزمه (Qusi Money) يا د سوداګريزو بانکونو موده ايزه (ميعادي) امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پيسو (M2) بله برخه جوړوی، د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۴.۳۸ سلنه (ربعه په ربعه) او ۲۶.۳ سلنه (کال په کال) وده ښکاره کوي. د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې پيسه وزمه يوازې د پراخه مفهوم په توګه د پيسو (M2) ۷ سلنه جوړوي؛ که څه هم د تير مالي کال د ورته ربعې له ۶ سلنې څخه لوړ دی، نو ځکه د پراخه مفهوم په توګه پيسو (M2) باندې د هغه د بدلونونو اغيزه ډېره کمه ده. په افغانی د موده ايزه امانتونو توپير (ربعه په ربعه) ۱۳۰ ميليونه افغانی ته رسيږي، حال دا چې پر اسعارو د موده ايزه امانتونو ارزښت ۱،۰۷۹ميليونه افغانی ثبت شوی دی. په افغانی موده ايز امانتونه د پراخه مفهوم په توګه د پيسو ۲ سلنه جوړوي، حال دا چې پر اسعارو د موده ايزه امانتونو ارزښت د ارزونې لاندې ربعه کې د پراخه مفهوم په توګه د پيسو(M2) کې ۴۸ سلنې ته رسيږي.

همدا ډول د جاري امانتونو ونډه د پراخه مفهوم په توګه پيسو (M2) کې د ارزونې لاندې ربعه کې ۴۶ سلنه (ربعه په ربعه) ثابته پاتې ده، حال دا چې (کال په کال) ۴۴ سلنه ثبت شوی دی.

۳.۲ او ۴.۲ ګرافونه د پولي تراکم او د هغه د اجزاوو په اړه ځينې معلومات وړاندې کوي.

**۳.۲ ګراف: جاري امانتونه د M2 د ونډې په توګه ( ٪)**




سرچينه: د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک

**۴.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه پيسه وزمه (٪)**




سرچينه: د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک

**۱.۲ جدول: د نقدينه ګۍ حجم، ۱۳۹۵ مالي کال دويمه ربعه( د ۲۰۱۶ د مارچ له ۲۰ څخه د ۲۰۱۶ د جون تر ۲۰ پورې)**

| په میلیون افغانۍ | دويمه ربعه، ۱۳۹۴ | لومړی ربعه، ۱۳۹۵ | کال په کال | توپير | لومړی ربعه، ۱۳۹۵ | ربعه په ربعه | توپير |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مبلغ | مبلغ | ٪ | | مبلغ | ٪ | |
| ۱- خالصه بهرني شتمنۍ | 507,009 | 548,969 | 14.5% | 73,350 | 580,358 | 5.72 % | 31,389 |
| (الف) بهرني شتمنۍ | 534,797 | 581,123 | 14.5% | 77,515 | 612,311 | 5.37 % | 31,189 |
| د افغانستان بانک د اسعارو زيرمې | 448,154 | 477,665 | 14.3% | 64,006 | 512,160 | 7.22 % | 34,494 |
| سره زر | 47,509 | 51,513 | 8.4 % | 4,004 | 51,513 | 0.00 % | 0 |
| نور | 400,645 | 426,152 | 15.0% | 60,002 | 460,647 | 8.09 % | 34,494 |
| نور بهرني شتمنۍ | 86,643 | 103,457 | 15.6% | 13,509 | 100,152 | - 3.20 % | - 3,306 |
| (ب) بهرني پورايني | 27,788 | 32,153 | 15.0% | 4,165 | 31,953 | - 0.62 % | -200 |
| ۲. خالصه کورني شتمنۍ | -125,938 | -154,485 | 35.7% | - 45,009 | -170,947 | 10.66 % | -16,462 |
| (الف) خالص کورنی کریډټ | - 33,670 | - 24,097 | 67.4% | - 22,688 | - 56,357 | 133.88% | - 32,261 |
| د غير مالي عامه سکتور لپاره خالص کريډټ | - 75,033 | -72,640 | 41.6% | - 31,191 | -106,225 | 46.23% | - 33,584 |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کريډټ | -74,906 | -72,735 | 42.0% | -31,430 | -106,336 | 46.20% | - 33,602 |
| د مرکزي حکومت لپاره کريډټ | 60,369 | 61,164 | 23.7% | 14,331 | 74,700 | 22.13% | 13,536 |
| د مرکزي حکومت لپاره پورايني | 135,275 | 133,898 | 33.8% | 45,761 | 181,036 | 35.20% | 47,138 |
| د مرکزي او سيمه ايز حکومت لپاره خالص کريډټ | 0.000 | 0.000 | 0.0% | 0 | 0.000 | 0.000 | 0 |
| د عامه غير مالي شرکتونو لپاره خالص کريډټ | -127 | 94 | -187.6% | 239 | 112 | 18.40 % | 17 |
| د خصوصي سکتور لپاره کريډټ | 43,058 | 49,975 | 19.0% | 8,192 | 51,250.50 | 2.55 % | 1,276 |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالص کريډټ | - 1,694 | -1,431 | -18.3% | 311 | - 1,383.33 | -3.32% | 47 |
| (ب) د پانګې حسابونه | 111,812 | 142,574 | 24.3% | 27,118 | 138,931 | -2.56% | - 3,643 |
| (ت) نور خالص اقلام | 19,544 | 12,185 | 24.5% | 4,797 | 24,342 | 99.76% | 12,156 |
| ۳- د پراخه مفهوم په توګه پيسې | 381,053 | 394,290 | 7.4 % | 28,051 | 409,104 | 3.76 % | 14,814 |
| د محدوده مفهوم په توګه پيسې | 358,226 | 366,679 | 6.2 % | 22,058 | 380,284 | 3.71 % | 13,605 |
| په ګردښت کې پيسې (هغه پيسې چې د امانات ایښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | 177,734 | 183,848 | 8.3 % | 14,830 | 192,565 | 4.74 % | 8,716 |
| جاري امانتونه | 180,492 | 182,831 | 4.0 % | 7,227 | 187,720 | 2.67 % | 4,889 |
| نور امانتونه (پيسه وزمه) | 22,827 | 27,611 | 26.3% | 5,993 | 28,820 | 4.38 % | 1,209 |
| په افغانۍ | 8,035 | 8,827 | 11.5 % | 923 | 8,957 | 1.47 % | 130 |
| په بهرنيو اسعارو | 14,792 | 18,784 | 34.3 % | 5,071 | 19,863 | 5.75 % | 1,079 |
| له ونډو (سهام) پرته په دولتي او غير دولتي پورونو کې د پانګې اچونې پانې | 507,009 | 548,969 | 14.5 % | 73,350 | 580,358 | 5.72 % | 31,389 |

سرچينه: د افغانستان بانک د پولی سیاست لوی آمریت، پولي سروې

## ۳.۲ خالصه نړيوالې زيرمې

خالصه نړيوالې زيرمې (NIR) د تيرې ربعې د ورته مودې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې ۴.۰۶ سلنه او ۲۶۵.۸۸ ميليون امريکايي ډالره زياتې شوي دي. د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې لپاره د خالصه نړيوالې زيرمو د حجم هدف ۶،۵۷۸.۷۱ ميليون امريکايي ډالره ټاکل شوی ده او تجديد شوی هدف يې ۶،۵۴۸.۶۲ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي، حال دا چې د خالصه نړيوالو زېرمو حقيقي کچه ۶،۸۱۲.۷۱ ميليونه امريکايي ډالره ثبت شوې چې له ټاکل شوې کچې څخه لوړه ده.

د دويمې ربعې په پای کې د بازار د مبادلې د نرخ په پام کې نيولو سره، خالصه نړيواله زېرمې ۴،۷۱.۳۴۰۲۷ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د پراخه مفهوم په توګه پيسو (M2) ۱۱۵.۲۱ سلنه جوړوي.

۵.۲ ګراف د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې حقيقي خالصه نړيواله زيرمې او د هغه د هدف بهير وړاندې کوي.

۵.۲ ګراف: خالصه نړيوالې زيرمې، ۱۳۹۵ مالي کال دويمه ربعه
(د ۲۰۱۶ کال د مارچ له ۲۰ څخه د ۲۰۱۶ د جون تر۲۰ پورې)




سرچينه: پولي سروې، د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک

## ۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار

د ملي پيسو (افغانۍ) ارزښت د روان مالي کال د لومړۍ ربعې د پای په پرتله په دويمه ربعه کې (۱.۲۱ سلنه) لږ څه کموالی لري، حال دا چې د ۱۳۹۴ مالي کال په ورته ربعه کې يې ۱۳.۹۵ سلنه کموالی درلوده.

د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ لوړيدونکی بهير درلوده چې له امله يو ډالر لږ تر لږه په ۶۸.۲۵ افغانۍ او حد اکثر ۶۹.۵۴ افغانۍ مبادله کېدې چې دواړه حد اکثر او حد اقل شمېرې له منځنې حد څخه کوچنی انحراف لري چې ۶۸.۷۱ ته رسيږي.

د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې يو ډالر په ۶۹.۱۹ افغانۍ مبادله کيده.

د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې د امريکايي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې اوسط نرخ ورځنۍ شرحه په لاندنې ګراف کې ښودل شوی دی.

۶.۲ ګراف: د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ، ۱۳۹۵ مالي کال دويمه ربعه
( د ۲۰۱۶ کال د مارچ له ۲۰ څخه د ۲۰۱۶ د جون تر ۲۰ پورې)




سرچينه: پولي سروې، د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک

## ۵.۲ د آزاد بازار عمليات او د سياليت شرايط

### ۱.۵.۲ د اسعارو ليلام

د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې د افغانستان بانک په ټوليزه توګه ۴۶۴.۲۰ ميليون امريکايي ډالره ليلام کړي دي، په داسې حال کې چې په همدې موده کې ټوليزه تقاضا ۶۵۳.۴۵ ميليون امريکايي ډالره وه. په اوسط ډول په هر ليلام کې ۴۸.۵ داوطلبانو ګډون کړی دی او له دې ډلې ۳۳.۰۳ داوطلبانو ګټوونکي اعلان شوي دي چې په هر دواطلب باندې په اوسط ډول ۱۲.۸۹ميليون امريکايي ډالره پلورل شوي دي. حال دا چې د ۱۳۹۴ مالي کال په ورته موده کې ټوليزه ورکړل شوی مبلغ ۶۸۱.۹۰ ميليون امريکايي ډالره وه او ټوليزه تقاضا ۹۶۰.۲۵ ميليون امريکايي ډالرو ته رسېده. تير کال په اوسط ډول په هر ليلام کې ۳۶ داوطلبانو ګډون کړی ؤ چې له دې ډلې ۲۹ داوطلبان ګټوونکي اعلان شوي چې په اوسط ډول په هر يو باندې ۲۸.۴۱ ميليونه ډالره پلورل شوي ؤ.

### ۲.۵.۲ د پانګه ايزو پاڼو ليلام

د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په پای کې د پانګه ايزو پاڼو ټوليزه ناترلاسه شوې کچه ۳۲.۲۶۱ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ ربعې په پای کې د ۳۲.۱۲ ميلياړده افغانۍ په پرتله ۰.۴۵ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. د بيه لرونکو پاڼو په کچه کې د دې زياتوالي عمده لامل د بانکي سکتور لخوا د افغانۍ د تقاضا لږ څه زياتوالی دی.

همدا ډول د ارزونې لاندې موده کې د ۷ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه ۵۵۰ ميليونه افغانۍ او د ۲۸ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه ۹۳۰ ميليونه افغانۍ ته رسيږي، حال دا چې په دې وروستيو کې د پانګه ايزو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه ۵۴۰ ميليونه افغانۍ ته رسيده. د ۱۸۲ ورځنيو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه ۶.۵۰۵ ميلیارده افغانۍ او د ۳۶۴ ورځنيو بيه لرونکو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه ۲۳.۷۳۶ ميليارده افغانۍ ته رسيږي.

همدا ډول د ارزونې لاندې موده په پای کې، د ۷ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو د عيار شوې ټکټاپې اوسط نرخ ۱.۸ سلنه او د ۲۸ ورځنيو بيه لرونکو پاڼو نرخ ۳.۵۳ سلنه ؤ، په داسې حال کې چې د ۹۱ ورځنيو بيه لرونکو پاڼو نرخ ۴.۳۳ سلنه او ۱۸۲ ورځنيو بيه لرونکو پاڼو نرخ ۵.۱۵ سلنې ته رسيږي او د ۳۶۴ ورځنيو پاڼو د ټکټاپې نرخ ۶.۶۶ سلنه ثبت شوی دی. ۷.۲ ګراف د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې د ټوليزه سررسيد مودو نا ترلاسه شوو کچو د اجزاوو وېشنه ښکاره کوي.

۷.۲ ګراف: ناتصفيه شوې پانګه ايزې پاڼې، د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې پای(په ميليونه افغانۍ)




سرچينه: د بازار عمليات لوی آمريت، د افغانستان بانک

### ۳.۵.۲ الزامي او اضافي زيرمې

بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د افغانستان بانک سره د الزامي زيرمې په توګه وساتي. د افغانستان بانک د ۲۰۱۵ کال د جون د ۲۸ نېټې له وروستيو بدلونونو مخکې

د الزامي زیرمو لپاره د ټکټاني ورکړه ودرولې ده.

د دې لپاره چې بانکونو ته آسانتیاوې برابرې شي چې خپل سیالیت په سمه توګه مدیریت کړي او ورته فرصت ورکړل شي چې د پانګه ایزو پاڼو ترڅنګ په خپلو اضافي زېرمو باندې هم پانګونې وکړي، د افغانستان بانک په ۱۳۸۵ کال (۲۰۰۶-۲۰۰۷) کې **د شپې دایمي آسانتیاوې** (Overnight Standing Facilities) معرفي کړې دي. که څه هم دغه نوښت د لنډې مودې لپاره لغوه شوی ؤ خو د پولي ابزار په توګه د هغه اغیزناکي وځاري چې دا کار د غوره پولي سیاست لپاره لاره هواروي. د پولي سیاست د ابزار په توګه د شپې د دایمي آسانتیاوو د اغیزناکۍ له ارزونې وروسته د افغانستان بانک د شپې دایمي آسانتیاوې (Overnight Standing Facility) تر لاس لاندې ونیولې او د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې یې د دې آسانتیا په بدل کې **۹.۵۹۵** میلیونه افغانۍ ټکټانه ورکړې ده.

**د شپې پور آسانتیا:** د دې آسانتیا کارونه بانکونو ته په هغه صورت کې اجازه ورکوي چې په خپل لنډ مهاله سیالیت کې له کمښت سره مخ شي او اړتیا ولري چې د شپې په اساس د افغانستان بانک څخه په افغانۍ پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې آسانتیا په بدل کې ګرځول کیږي د تیرو ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام له مبلغ څخه ۳.۵ سلنه پورته دی. دا پور اخیستنه د پانګه ایزو پاڼو د نا ترلاسه شوې مبلغ په مرسته تضمین کیږي. د ټکټانې د نرخ د دې ډول لوړوالي اصلي لامل د بانکونو ترمنځ د پور ورکړې لپاره د بانکونو هڅول دي.

# ۳

# د انفلاسیون بهیر او لید لوری

# ۳

## د انفلاسيون بهير او ليد لوری

د نړۍ اقتصادي کړنې د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې کمزورې شوي دي. دا بهير د نړۍ په اقتصاد باندې د بريکسټ (BREXIT) د اغيزو په اړه کې په دقيقه توګه تر څېړنې لاندې نيول شوی دی. له اروپايي ټولنې څخه د بريتانيې د وتلو په پام کې نيولو سره د نړۍ اقتصاد لپاره ټيټيدونکو خطرونو په ځانګړې توګه د سوداګرۍ او پانګه اچونې په برخو کې تحقق موندلی دی. بريکسټ (BREXIT) د سياسي او اقتصادي ناډاډمنتيا د زياتيدو اټکل شوي پايلې منعکس کړي دي، خو دا پايلې له اټکل شوي حد څخه ټيټې دي.

د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې، د نړيواله توکو د بيو د زياتيدو اصلي لامل د نفتو د بيو وروستي زياتيدنه ده. د تيرې ربعې په پرتله د نفتو بيې ۴۷.۳ سلنې ته لوړې شوي دي چې د دې زياتيدو اصلي لاملونه د نفتو لپاره لوړه تقاضا او د توليد په برخه کې دوامداره اختلالونه ګڼل کيږي. سربېره پر دې، د کرنې بيې د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل يې د خوراکي توکو او کرنيز اومه موادو زياتوالی دی.[1] د لويديځې آسيا په سيمه کې، د هند د انفلاسيون نرخ د تيرې ربعې د ۵.۵ سلنې په پرتله ۶.۱ سلنې ته لوړ شوی دی. له بلې خوا د چين د انفلاسيون نرخ له ۲.۳ سلنې څخه ۱.۹ سلنې ته راکم شوی دی.[2]

### ۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بيې

په افغانستان کې د انفلاسيون لوړيدونکی بهير چې د ۱۳۹۴ مالي کال په نيمايي کې پيل شوی او د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې هم دوام لري چې له امله يې عمومي انفلاسيون ۵.۹۶ سلنې ته (کال په کال) لوړ شوی دی. د مصرفي توکو بيې هم د بيلابېلو عواملو له امله زياتې شوي دي. لومړی:په افغانستان کې د مصرفي توکو د بيې د شاخص د انفلاسيون د زياتيدو اصلي لامل په نړيواله بازارونو کې د نفتو د بيو زياتوالی دی چې د تيرې ربعې په پرتله د نفتو د بيو ۴۷.۳ سلنه زياتوالي له امله د توکو بيې هم لوړې شوي دي. دويم: د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګرۍ د کچې ( په ځانګړې توګه د وارداتو ) کموالی د دويمې ربعې په اوږدو کې د بيو د لوړيدو يو بل لامل ګڼل کيږي. د پولې پر سر د ځينو ستونزو د راپيدا کيدو په پايله کې له پاکستان څخه د وارداتو کچه د پام وړ راټيټه شوې ده.

د نورو توکو په منځ کې د پام وړ کموالی د سمنټو، اوړو، پوښاک او درملو په وارداتو کې راغلی دی چې په پايله کې يې په لنډ مهاله توګه د توکو بيې لوړې شوې وې. دريم: له پاکستان څخه د کډوالو د کچې په زياتيدو سره په افغانستان کې د مصرفي توکو د بيو د شاخص انفلاسيون هم د دويمې ربعې په اوږدو کې زيات شوی دی. څرنګه چې د دې کډوالو ډېری برخه د خپلو اصلي کليو پر ځای په ښارونو کې ميشت شوي دي، نو له همدې امله خوراکي توکو، کورونو، اثاثيې يا کورني توکو او عامه خدمتونو ته تقاضا زياته شوې ده.

انفلاسيون هم د ربعو پر بنسټ زيات شوی دی، خو د تير کال په پرتله يې کچه ټيټه ده. د لنډ مهالې شننې له مخې، د عمومي مصرفي توکو د بيو د شاخص انفلاسيون د لومړۍ ربعې له ۰.۸ سلنې څخه په دويمه ربعه کې ۰.۹ سلنې ته لږ څه زياتوالی موندلی دی. په کابل کې د بيو له زياتيدو وروسته، د انفلاسيون عمومي نرخ ۰.۰۹۷ سلنه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي او (کال په کال) ۶.۴ سلنې ته رسيږي. په ورته وخت کې د کابل عمومي انفلاسيون (ربعه په ربعه) له ۰.۰ سلنې څخه ۱.۳ سلنې ته زيات شوی دی.

---

۱. د پيسو د نړيوال صندوق د توکو د بيې شاخص، مياشتني راپورونه( د ۲۰۱۶ له جنوري څخه تر جون پورې)

۲. OECD.stat

## ۱.۱.۳ د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص بدلونونه

### ۱.۱.۱.۳ کلني بدلونونه

د عمومي مصرفي توکو د بيې د شاخص انفلاسيون د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې زيات شوی دی. انفلاسيون چې د کال په کال له مخې سنجش کيږي په ۲۲ مياشتو کې خپل لوړ حد ته رسيدلی او له ۳.۷۹ سلنې څخه ۵.۹۶ سلنې ته لوړ شوی دی چې د تيرې ربعې په پرتله ۰.۰۲۱۷ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د دويمې ربعې په اوږدو کې د مصرفي توکو د بيې د شاخص دواړه خوراکي توکي او ناخوراکي توکي د انفلاسيون لوړ نرخ ښکاره کوي. د ډوډۍ او حبوباتو، غوښې، شيدو، پنير او هګيو، غوړي او شحمياتو او سبزيجاتو د لوړې بيې له امله د خوراکي توکو د انفلاسيون نرخ د تيرې مياشتې له منفي ۳.۳ سلنې ۶.۸ سلنې ته زيات شوی دی.

د ناخوراکي توکو د انفلاسيون نرخ له منفي ۲.۲ سلنې څخه ۵.۰ سلنې ته زيات شوی چې اصلي لامل يې د پوښاک، کور جوړونې، برېښنا، اوبه او غازو، اثاثيې او کورني توکو او ټرانسپورټ د بيو زياتوالی ګڼل کيږي.

۱.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بيې شاخص ( کال په کال)




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

د اصلي محاسبې د بدلونونو په پام کې نيولو سره، د اوسط پيدا کولو ميتود چې د اصلي انفلاسيون د محاسبې تر ټولو عام ميتود دی، له ۰.۵ سلنې څخه ۶.۴ سلنې ته زياتوالی ښکاره کوي. سربېره پر دې، د مصرفي توکو د بيو شاخص له ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمياتو او ټرانسپورټ پرته، له منفي ۱.۹ سلنې څخه ۵.۸ سلنې ته لوړ شوی دی.

۲.۳ ګراف: اصلي انفلاسيون ( ۳۰ سلنه د اوسط پيدا کولو ميتود)




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بيې د شاخص د اجزاوو وېشنه
(د کال پر اساس د بدلونونو سلنه)
(د ۲۰۱۱ کال مارچ مياشت = ۱۰۰)

| | وزن | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | | ۱۳۹۵ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه |
| **ټوليز شاخص** | **100.0** | **5.6** | **5.6** | **4.2** | **1.3** | **-0.6** | **-2.8** | **-1.9** | **0.1** | **3.8** | **5.96** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **10.0** | **9.7** | **6.8** | **2.9** | **-0.6** | **-3.3** | **-2.6** | **-0.3** | **4.0** | **6.8** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 9.5 | 11.4 | 11.0 | 8.0 | 2.1 | - 3.4 | - 2.3 | 0.5 | 5.0 | 7.6 |
| غوښه | 7.2 | 2.6 | 3.4 | 3.7 | 3.4 | 2.4 | - 0.2 | - 1.5 | 0.8 | 3.2 | 6.7 |
| شيدې، پنير او هګۍ | 4.8 | 6.5 | 6.1 | 2.1 | 3.4 | 1.4 | 1.0 | 1.5 | 1.3 | 2.4 | 3.1 |
| غوړي او شحميات | 4.0 | 1.8 | 1.7 | 0.9 | - 1.7 | - 6.2 | - 7.2 | - 6.5 | - 6.6 | - 1.9 | 3.9 |
| تازه او وچه ميوه | 4.8 | 8.5 | 9.9 | 9.2 | 11.5 | 6.6 | 7.9 | 2.0 | 0.5 | 3.6 | 4.9 |
| سبزيجات | 7.9 | 30.3 | 24.3 | 7.1 | - 9.6 | -11.7 | -15.9 | -12.4 | - 6.3 | 1.9 | 4.2 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | 2.5 | - 1.6 | - 0.2 | - 1.0 | - 1.1 | 0.5 | 0.4 | 6.0 | 11.1 | 19.9 |
| اچار، ترشي او... | 0.9 | 10.5 | 9.4 | 12.0 | 5.9 | 1.0 | - 1.0 | 0.3 | 6.6 | 13.3 | 16.9 |
| غير الکولي مشروبات | 1.8 | 7.4 | 3.7 | 4.0 | 2.1 | 1.3 | 3.1 | 4.6 | 5.3 | 7.9 | 7.3 |
| **نا خوراکي** | **48.0** | **1.1** | **1.4** | **1.4** | **- 0.5** | **- 0.5** | **- 2.2** | **- 1.2** | **0.5** | **3.7** | **5.0** |
| تمباکو | 0.4 | 8.4 | 3.0 | 0.6 | 6.7 | 7.2 | 12.8 | 25.0 | 22.4 | 21.8 | 12.8 |
| پوښاک | 7.0 | 8.3 | 8.1 | 6.9 | 4.2 | 2.9 | 2.0 | 6.6 | 8.6 | 9.9 | 9.1 |
| کور جوړونه (استوګنځی) | 20.7 | - 8.5 | - 9.1 | -8.8 | - 9.7 | -4.6 | - 7.0 | - 7.4 | - 6.6 | - 2.7 | 1.6 |
| فرنيچر او کورني توکي | 7.0 | 8.5 | 10.4 | 10.3 | 8.4 | 4.9 | 2.1 | 3.3 | 5.7 | 9.7 | 8.9 |
| روغتيا | 3.3 | 8.8 | 9.0 | 10.3 | 8.5 | 7.7 | 7.4 | 6.9 | 9.4 | 9.4 | 8.7 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | 16.6 | 20.1 | 19.5 | 11.3 | -6.9 | -10.0 | -7.8 | -3.4 | 2.0 | 3.0 |
| اړيکې | 1.1 | -1.5 | - 1.4 | -2.0 | -3.4 | -4.7 | -3.3 | -2.2 | - 1.3 | -0.1 | 1.5 |
| زده کړه | 0.7 | 1.9 | 5.0 | 4.0 | 2.8 | 2.0 | -2.7 | -3.7 | -5.1 | -7.6 | 9.2 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 6.5 | 5.4 | 7.1 | 7.0 | 1.2 | 3.8 | 5.2 | 6.3 | 6.5 | 5.2 |
| ريستورانتونه او هوټلونه | 1.0 | 2.6 | 2.4 | 4.6 | 3.2 | 2.2 | 4.2 | -0.8 | -0.3 | 0.7 | -3.6 |
| متفرقه | 1.8 | 7.6 | 10.2 | 8.2 | 7.6 | 7.3 | 7.2 | 10.6 | 9.5 | 9.1 | 7.4 |
| اصلي انفلاسيون (۳۰ سلنه د قيچي کارئ ميتود پر اساس) | | **6.4** | **6.3** | **5.6** | **4.3** | **0.9** | **0.5** | **0.5** | **2.2** | **5.1** | **6.4** |
| اصلي انفلاسيون (د ډوډۍ او حبوبات، غوړي او شحمياتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسيون) | | **4.3** | **3.6** | **1.7** | **-0.8** | **-0.4** | **-1.9** | **-1.2** | **-1.0** | **3.8** | **5.8** |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بـانـک د کارکوونکو محاسبه

**۲.۱.۱.۳ د ملي مصرفي توکو د بیو په شاخص کې درې میاشتنې بدلونونه**

د ربعې په ربعې له مخې عمومي انفلاسیون د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. عمومي انفلاسیون د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې له ۰.۸ سلنې څخه ۰.۹ سلنې ته لوړ شوی دی چې اصلي لامل یې د ناخوراکي توکو لوړ انفلاسیون په ګوته شوی دی، حال دا چې د خوراکي توکو د کټګورۍ د انفلاسیون نرخ ټیټ ثبت شوی دی.

د احصائیې د مرکزي اداري د معلوماتو پربنسټ، د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ له ۱.۶ سلنې څخه ۰.۹ سلنې ته راغورځیدلی دی چې اصلي لامل یې د غوښې، شیدې، پنیر، هګیو او سبزیجاتو د بیو ټیټوالی په ګوته شوی دی. همدا ډول په دې کټګورۍ کې تر ټولو زیات کموالی د سبزیجاتو په بیو کې لیدل کیږي چې د تیرې ربعې د ۵.۸ سلنه زیاتوالي په پرتله منفي ۵.۵ سلنې ته راښکته شوی دی. په دې توکو کې دویم تر ټولو ستر کموالی د شیدو، پنیر او هګیو په بیو کې راغلی دی چې له ۰.۹ سلنې څخه منفي ۱.۴ سلنې ته کموالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د ناخوراکي توکو د انفلاسیون نرخ په مرسته د عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص انفلاسیون د تیرې ربعې له منفي ۰.۲ سلنې څخه ۱.۰سلنې ته لوړ شوی دی. د ناخوراکي توکو لوړ انفلاسیون تر یوه حده پورې د خوراکي توکو په کموالي سره جبرانیږي. په دې کټګورۍ کې کور جوړونه، بریښنا، اوبه او غاز د تیرې ربعې د منفي ۱.۷ سلنه کموالي په پرتله ۱.۵ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی. په ورته وخت کې د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د ټرانسپورټ بیې ۰.۸ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې د منفي ۳.۶ سلنه کموالي په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

۳.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص (ربعه په ربعه)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه
(د ربعې له مخې د بدلونونو سلنه)
(د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشت)

| | ۱۳۹۳ مالي کال | | | | ۱۳۹۴ مالي کال | | | | ۱۳۹۵ مالي کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی ربعه | دویمه ربعه | درېیمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دویمه ربعه | درېیمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دویمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **-1.0** | **1.2** | **-0.2** | **1.3** | **-2.9** | **-1.1** | **0.8** | **3.4** | **0.8** | **0.9** |
| **خوراکي توکي او څښناک** | **0.8** | **1.0** | **-1.0** | **2.0** | **-2.6** | **-1.7** | **-0.3** | **4.5** | **1.6** | **0.9** |
| ډوډۍ او حبوبات | 0.6 | 4.1 | 2.7 | 0.4 | -5.0 | -1.4 | 4.0 | 3.2 | -0.7 | 1.0 |
| غوښه | 0.3 | 0.7 | 2.1 | 0.3 | -0.7 | -1.9 | 0.8 | 2.7 | 1.7 | 1.4 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 1.9 | -1.8 | 0.8 | 2.5 | -0.1 | -2.1 | 1.2 | 2.4 | 0.9 | -1.4 |
| غوړي او شحمیات | -0.9 | -0.2 | -0.1 | -0.5 | -5.4 | -1.3 | 0.6 | -0.5 | 0.7- | 4.6 |
| تازه او وچه میوه | 6.5 | 3.4 | -1.7 | 3.1 | 1.8 | 4.6 | -7.1 | 1.5 | 4.9 | 5.9 |
| سبزیجات | -0.3 | -3.0 | -14.7 | 9.7 | -2.7 | -7.6 | -11.2 | 17.4 | 5.8 | -5.5 |
| بوره او خواږه توکي | -2.1 | -2.8 | 3.3 | 0.7 | -2.3 | -1.2 | 3.3 | 6.3 | 2.4 | 6.7 |
| اچار، ترشي او... | 3.3 | 2.7 | 0.3 | -0.5 | -1.5 | 0.7 | 1.7 | 5.7 | 4.7 | 3.9 |
| غیر الکولي مشروبات | 0.5 | -0.6 | 1.9 | 0.3 | -0.3 | 1.1 | 3.4 | 1.0 | 2.1 | 0.6 |
| **نا خوراکي توکي** | **-2.9** | **1.4** | **0.6** | **0.5** | **-3.2** | **-0.3** | **1.9** | **2.2** | **-0.2** | **1.0** |
| تمباکو | -0.2 | 2.2 | -2.8 | 7.6 | 0.3 | 7.5 | 7.8 | 5.4 | -0.2 | -0.4 |
| پوښاک | 1.2 | 1.9 | -0.2 | 1.3 | -0.1 | 1.1 | 4.3 | 3.2 | 1.1 | 0.3 |
| کور جوړونه (استوګنځی) | -10.3 | -0.3 | -0.1 | 1.1 | -5.7 | -2.8 | 0.0 | 1.9 | -1.7 | 1.5 |
| فرنیچر او کورني توکي | 1.8 | 4.6 | 1.1 | 0.7 | -1.5 | 1.7 | 2.4 | 3.0 | 2.3 | 1.0 |
| روغتیا | 4.2 | 2.0 | 2.5 | -0.4 | 3.4 | 1.8 | 2.0 | 1.9 | 3.4 | 1.1 |
| ټرانسپورټ | 9.1 | 3.2 | 2.4 | -3.5 | -8.7 | -0.2 | 4.9 | 1.1 | -3.6 | 0.8 |
| اړیکې | -0.1 | -1.3 | -1.3 | -0.7 | -1.4 | 0.1 | -0.3 | 0.3 | -0.3 | 1.7 |
| زده کړه | 1.8 | 2.4 | -0.2 | -1.2 | 1.0 | -2.2 | -1.3 | -2.6 | -1.7 | 15.6 |
| معلومات او کلتور | 5.5 | -1.0 | 1.6 | 0.8 | -0.2 | 1.5 | 2.9 | 1.9 | 0.1 | 0.2 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 0.9 | 0.4 | 3.3 | -1.5 | 0.0 | 2.3 | -1.6 | -1.0 | 1.0 | -2.1 |
| متفرقه | 1.2 | 2.8 | 0.1 | 3.3 | 1.0 | 2.6 | 3.3 | 2.2 | 0.6 | 1.0 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۱.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیو په شاخص کې بدلونونه

### ۱.۲.۱.۳ کلني بدلونونه

د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې د کابل د مصرفي توکو د بیې په شاخص کې کلني بدلونونه هم لوړیدونکی بهیر لري. د دې شاخص پر بنسټ عمومي انفلاسیون ۶.۴ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۳.۳ سلنه ډیفلاسیوني نرخ په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د مصرفي توکو د بیې د شاخص دواړه برخې خوراکي او ناخوراکي توکي د انفلاسیون لوړ نرخونه لري. د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ له منفي ۱.۳ سلنې څخه ۶.۳ سلنې ته لوړ شوی دی او د ناخوراکي توکو د انفلاسیون نرخ له ۴.۸ سلنه ډیفلاسیوني نرخ څخه ۶.۵ سلنې ته زیات شوی دی.

د خوراکي توکو د انفلاسیون د زیاتیدو اصلي لاملونه د ډوډۍ او حبوباتو د بیو ( له منفي ۲.۹ سلنې څخه ۰.۲ سلنې)، د غوښې بیه ( له ۱.۱ سلنې څخه ۱۲.۱ سلنې)، د غوړیو او شحمیاتو بیې ( له منفي ۷.۷ سلنې څخه منفي ۴.۷ سلنې)، تازه او وچې میوې بیې ( له ۸.۳ سلنې څخه ۹.۱ سلنې) او د سبزیجاتو بیې ( له منفي ۱.۲ سلنې څخه ۳.۲ سلنې) ته زیاتوالی ګڼل کیږي. له بلې خوا، د شیدې، پنیر او هګیو بیې د تیر کال د دویمې ربعې د ۶.۱ سلنې په پرتله ۴.۴ سلنې ته کموالی ښکاره کوي.

د ناخوراکي توکو په کټګورۍ کې د پوښاک، کور جوړونې، برېښنا، اوبه او غاز، اثاثیې او کورني توکي او ټرانسپورټ بیې لوړې شوي دي. د پوښاک بیې د تیر کال د

ورته ربعې د ۰.۸ سلنه زياتوالي په پرتله په دويمه ربعه کې ۱۶.۷ سلنې ته لوړې شوي دي. د کور جوړونې، برېښنا، اوبه او غازو بيې له منفي ۸.۸ سلنې څخه ۱.۷ سلنې ته، د اثاثيې او کورنيو توکو بيې له ۳.۹ سلنې څخه ۱۵.۴ سلنې ته زياتې شوي دي. همدا ډول ټرانسپورټ ( چې د نفتو بيې رانغاړي) له منفي ۱۵.۴ سلنې څخه ۹.۲ سلنې ته زياتوالى ښکاره کوي. د يوې ډېرې ځانګړې شننې له مخې، د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې د کابل د مصرفي توکو د بيې په شاخص کې د بيې بدلونونه چې د اصلي محاسبو له مخې اندازه کيږي، همدا ډول د يو کال په اوږدو کې لوړيدونکى بهير درلوده. د اوسط پيدا کولو ميتود چې د اصلي انفلاسيون د حجم د پيدا کولو تر ټولو عام ميتود دى ( چې اوس مهال د شاخص له ۳۰ سلنې پرته محاسبه کيږي) له ۱.۲ سلنې څخه ۸.۵ سلنې ته لوړ شوى دى. سربېره پر دې د مصرفي توکو د بيې د شاخص انفلاسيون له ډوډۍ، او حبوباتو، غوړيو او شحمياتو او ټرانسپورټ پرته له ۲.۳ سلنه ډيفلاسيوني نرخ څخه ۸.۵ سلنې ته لوړ شوى دى.

۴.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بيو شاخص (کال په کال)




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه**

(د کال له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | وزن | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | | ۱۳۹۵ | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **100.0** | **1.8** | **1.2** | **1.2** | **-1.1** | **-1.8** | **-3.3** | **-2.5** | **-0.6** | **4.4** | **6.4** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **7.9** | **5.5** | **5.4** | **1.8** | **-1.0** | **-1.3** | **-2.1** | **0.0** | **4.8** | **6.3** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 7.7 | 4.8 | 6.6 | 3.0 | -1.9 | -2.9 | -3.2 | -0.7 | 1.1 | -0.2 |
| غوښه | 7.2 | -1.4 | -1.4 | 3.8 | 2.6 | 0.5 | 1.1 | 0.7 | 4.3 | 8.7 | 12.1 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 4.8 | 6.1 | 9.9 | 8.7 | 5.9 | 2.7 | 6.1 | 8.5 | 7.1 | 8.1 | 4.4 |
| غوړي او شحمیات | 4.0 | -0.9 | -3.1 | -5.1 | -5.5 | -12.6 | -7.7 | -7.5 | -5.5 | -3.1 | -4.7 |
| تازه او وچه میوه | 4.8 | 6.5 | 8.8 | 7.4 | 12.9 | 5.1 | 8.3 | 3.0 | 3.1 | 9.7 | 9.1 |
| سبزیجات | 7.9 | 24.7 | 15.8 | 8.9 | -5.6 | -2.3 | -10.2 | -12.6 | -1.5 | -3.0 | 3.2 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | -0.5 | -6.9 | -3.5 | -5.1 | -2.8 | 1.4 | 2.6 | 13.9 | 26.9 | 39.3 |
| اچار، ترشي او... | 0.9 | 8.3 | 7.0 | 9.2 | 7.2 | 1.4 | 3.6 | 9.3 | 19.8 | 30.0 | 35.1 |
| غیر الکولي مشروبات | 1.8 | 7.8 | 2.1 | 2.6 | 3.2 | -0.8 | 3.0 | 5.3 | 9.5 | 11.6 | 13.6 |
| **نا خوراکي توکي** | **48.0** | **-2.4** | **-1.7** | **-1.6** | **-3.1** | **-2.3** | **-4.8** | **-2.8** | **-0.9** | **4.2** | **6.5** |
| تمباکو | 0.4 | 11.2 | 13.3 | 11.5 | 15.5 | 12.9 | 9.1 | 22.6 | 20.1 | 20.8 | 17.1 |
| پوښاک | 7.0 | 7.8 | 11.5 | 11.3 | 10.3 | 5.6 | 0.8 | 9.8 | 13.8 | 17.8 | 16.7 |
| کور جوړونه، برېښنا، اوبه او ګاز | 20.7 | -12.2 | -13.2 | -13.1 | -13.4 | -5.5 | -8.8 | -10.0 | -9.6 | -4.7 | 1.7 |
| فرنیچر او کورني توکي | 7.0 | 6.2 | 13.4 | 13.2 | 12.5 | 7.2 | 3.9 | 8.5 | 14.0 | 19.8 | 15.4 |
| روغتیا | 3.3 | 7.8 | 7.3 | 8.7 | 4.1 | 4.1 | 3.5 | 0.2 | 0.3 | 1.7 | 0.9 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | 33.3 | 33.2 | 32.1 | 19.4 | -14.7 | -15.4 | -7.4 | -3.4 | 8.2 | 9.2 |
| اړیکي | 1.1 | -0.8 | -2.2 | -4.0 | -5.0 | -5.7 | -3.6 | -1.6 | -0.2 | 0.3 | 0.0 |
| زده کړه | 0.7 | -0.1 | 2.8 | 1.9 | 2.1 | 1.6 | -3.8 | -5.8 | -7.3 | -9.7 | 11.4 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 14.0 | 14.6 | 19.1 | 18.3 | 1.8 | 5.6 | 6.8 | 9.8 | 11.7 | 8.1 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 1.0 | 1.5 | 2.3 | 5.2 | 3.1 | 1.7 | 5.5 | -0.6 | 0.0 | 2.2 | -7.4 |
| متفرقه | 1.8 | 4.3 | 7.9 | 3.8 | 5.0 | 4.5 | 8.3 | 17.8 | 17.9 | 19.1 | 12.5 |
| **اصلي انفلاسیون (۲۸ سلنه د اوسط پیدا کولو پر بنسټ)** | | **5.3** | **5.7** | **6.2** | **4.4** | **0.7** | **1.2** | **1.9** | **4.7** | **8.4** | **8.5** |
| **اصلي انفلاسیون (د ډوډۍ او حبوبات، غوړي او شحمیاتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسیون)** | | **-1.3** | **-1.3** | **-3.8** | **-3.1** | **-1.0** | **-2.3** | **-1.7** | **-0.1** | **5.4** | **8.5** |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

* د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ کال څخه پیل شوی(ډیسمبر ـ جنوري)، له همدې امله درې ربعې رانغاړي.

### ۲.۲.۱.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص درې میاشتني بدلونونه

د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې د کابل د مصرفي توکو د بيې د شاخص انفلاسيون د ربعې په ربعې محاسبې له مخې لوړ نرخ تجربه کړی دی چې له امله يې د دواړو خوراکي توکو او ناخوراکي توکو د انفلاسيون نرخ لوړ شوی دی. عمومي انفلاسيون د ارزونې لاندې په اوږدو کې له صفر څخه ۱.۳ سلنې ته زيات شوی دی.

د دويمې ربعې په اوږدو کې د خوراکي توکو د انفلاسيون نرخ د تيرې ربعې له ۰.۷ سلنې څخه ۰.۹ سلنې ته لوړ شوی دی چې اصلي لامل يې د ډوډۍ او حبوباتو د بيو ( له منفي ۵.۸ سلنې څخه منفي ۰.۳ سلنې) او د غوړيو او شحمياتو ( له منفي ۷.۷ سلنې څخه ۲.۲ سلنې ته) زياتوالی دی. د دې توکو ځينې برخې ټيټې بيې ښکاره کوي. په دې کټګورۍ کې تر ټولو زيات کموالی تازه او وچه ميوه او سبزيجات لري چې په ترتيب سره له ۸.۹ سلنې څخه ۷.۷ سلنې او له ۵.۹ سلنې څخه منفي ۶.۰ سلنې ته رسيږي.

د ناخوراکي توکو د کټګورۍ انفلاسيون له منفي ۰.۴ سلنې څخه ۱.۶ سلنې ته لوړ شوی دی. د ناخوراکي توکو د کټګورۍ د انفلاسيون د زياتيدو اصلي لامل د کور جوړونې، برېښنا، اوبه او غازو او ټرانسپورټ د بيو زياتوالی ګڼل کيږي. د کور جوړونې، برېښنا، اوبه او غازو بيې د تيرې ربعې د ۱.۹ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۳.۱ سلنې ته زياتې شوي دي. سربېره پر دې، د ټرانسپورټ بيې هم له منفي ۲.۴ سلنې څخه ۰.۵ سلنې ته پورته شوي دي.

۵.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بيې شاخص ( ربعه په ربعه)




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بيې شاخص (ربعه په ربعه)**

(د ربعې له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | ۱۳۹۵ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېیمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېیمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه |
| تولیز شاخص | **- 3.8** | **1.0** | **0.3** | **1.6** | **- 4.7** | **- 0.6** | **1.4** | **3.6** | **0.0** | **1.3** |
| خوراکي توکي او څښاک | **- 1.2** | **- 0.2** | **0.0** | **3.3** | **- 3.9** | **- 0.5** | **- 0.8** | **5.5** | **0.7** | **0.9** |
| ډوډۍ او حبوبات | - 2.8 | 2.0 | 5.1 | - 1.1 | - 7.4 | 1.0 | 4.8 | 1.4 | - 5.8 | - 0.3 |
| غوښه | - 0.5 | - 2.5 | 4.4 | 1.3 | - 2.6 | - 1.9 | 3.9 | 4.9 | 1.5 | 1.2 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 2.0 | - 1.5 | 2.5 | 3.0 | - 1.1 | 1.7 | 4.7 | 1.6 | - 0.1 | - 1.8 |
| غوړي او شحمیات | - 2.6 | - 1.6 | - 0.8 | - 0.6 | - 9.9 | 3.9 | - 0.5 | 1.5 | - 7.7 | 2.2 |
| تازه او وچه میوه | 9.9 | 5.1 | - 4.5 | 2.3 | 2.3 | 8.3 | - 9.2 | 2.4 | 8.9 | 7.7 |
| سبزیجات | - 6.6 | - 3.9 | - 11.0 | 18.2 | - 3.4 | - 11.7 | - 13.4 | 19.8 | 5.9 | -6.0 |
| بوره او خواږه توکي | -5.2 | - 5.6 | 6.0 | 0.0 | - 3.0 | - 1.5 | 7.3 | 11.1 | 8.1 | 8.1 |
| اچار، ترشي او... | 3.1 | 0.9 | 1.8 | 1.1 | - 2.4 | 3.2 | 7.4 | 10.8 | 5.8 | 7.2 |
| غیر الکولي مشروبات | 2.0 | - 2.6 | 2.3 | 1.5 | - 2.0 | 1.2 | 4.6 | 5.5 | - 0.1 | 3.0 |
| نا خوراکي | **- 5.6** | **1.9** | **0.5** | **0.3** | **- 5.3** | **- 0.7** | **3.0** | **2.3** | **- 0.4** | **1.6** |
| تمباکو | 1.9 | 7.4 | 0.5 | 5.0 | - 0.4 | 3.8 | 12.9 | 2.8 | 0.2 | 0.7 |
| پوښاک | 2.2 | 5.2 | - 0.1 | 2.6 | - 2.2 | 0.5 | 8.8 | 6.4 | 1.2 | - 0.4 |
| کور جوړونه | -14.0 | 0.1 | - 0.1 | 0.6 | - 6.9 | - 3.4 | - 0.5 | 1.0 | - 1.9 | 3.1 |
| فرنیچر او کورني توکي | 1.4 | 8.2 | 1.3 | 1.3 | - 3.3 | 4.8 | 5.8 | 6.4 | 1.6 | 0.9 |
| روغتیا | 1.6 | 0.8 | 3.7 | - 2.0 | 1.7 | 0.2 | 0.4 | - 2.0 | 3.1 | -0.6 |
| ټرانسپورټ | 21.9 | 0.5 | 1.7 | - 4.1 | -12.9 | - 0.4 | 11.4 | 0.0 | - 2.4 | 0.5 |
| اړیکې | - 0.1 | - 2.1 | - 1.9 | - 1.0 | - 0.8 | 0.1 | 0.1 | 0.4 | - 0.3 | - 0.2 |
| زده کړه | 1.0 | 2.0 | 0.1 | - 1.1 | 0.5 | - 3.3 | - 1.9 | - 2.8 | - 2.0 | 19.2 |
| معلومات او کلتور | 14.0 | - 0.3 | 3.6 | 0.5 | - 1.9 | 3.4 | 4.8 | 3.2 | - 0.2 | 0.1 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 1.5 | 0.8 | 2.9 | - 2.0 | 0.0 | 4.6 | - 3.1 | - 1.3 | 2.2 | - 5.2 |
| متفرقه | 0.4 | 3.2 | - 1.9 | 3.3 | - 0.1 | 7.0 | 6.8 | 3.4 | 0.9 | 1.0 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۲.۳ د انفلاسیون لنډ مهاله لیدلوری**

د راتلونکو دوو ربعو لپاره د افغانستان د انفلاسیون په اړه وړاند وینې هیله مند کوونکي دي چې له کبله یې مونږ د راتلونکو شپږو میاشتو په اوږدو کې د عمومي بیې په کچه کې د پام وړ زیاتوالی/ کموالی پیش بیني کړی نه دی. خو بیا هم تمه کیږي چې د کال په پای کې د انفلاسیون نرخ لږ څه زیاتوالی ومومي.

د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې د لوړ انفلاسیون یو ستر لامل له پاکستان سره د پولي پر سر ستونزې (چې ډېری د سوداګرۍ په ډګر کې لیدل کیږي) دي. که چېرې دا سوداګریز خنډونه پر ځای پاتې شي، نو مونږ به د کورنیو بیو په کچه کې ډېری انفلاسیوني اغیزې وګورو. دا ځکه چې بازار مو نه شي کولای چې په لنډه مهاله توګه د خلکو تقاضا پوره کړي.

په ورته وخت کې د دویمې ربعې د پیل راهیسې له ۲۰۰،۰۰۰ زرو زیات کسان له پاکستان څخه بیرته راستانه شوي دي او دا بهیر احتمال لري چې د کال تر پایه پورې دوام ومومي. که چېرې دا کډوال ډېری د خپلو اصلي سیمو پر ځای په ښارونو کې میشت شي، نو ښایي د تقاضا فشارونه چې کیدای شي په راتلونکو دوو ربعو کې د انفلاسیون د لوړیدو لامل شي، زیات کړي.

**۱.۲.۳ خطرونه**

که څه هم مرکزي بانک د انفلاسیون په نرخ کې د لږ څه زیاتوالی تمه لري، خو سره له دې هم د راتلونکو میاشتو لپاره د انفلاسیون په وړاند وینو کې ځینې خطرونه لیدل کیږي. د راتلونکي یوې ربعې په اوږدو کې امنیتي ستونزې د انفلاسیون لپاره یو بنسټیز خطر ګڼل کیږي. که چېرې امنیتي وضعیت نازک او یا هم خراب شي، نو بازار به مو د عرضې له ستر کموالي (د تقاضا د کموالي پر ځای به له زیاتوالی) سره مخ شي.

په ورته وخت کې د راپورونو پربنسټ، د اوپک غړو هېوادونو د نفتو په تولید کې د کموالي نښې نښانې ښتون لري، حال دا چې نړیواله تقاضا لوړه اټکل شوې ده. له همدې امله، په افغانستان کې د انفلاسیون د زیاتیدو یو عمده لامل ښایي د نړۍ په کچه د نفتو د بیو دوامداره زیاتولي وي.

# ۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

## ۴
## د بهرني سکتور بدلونونه

دا څېرکی د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د هېواد په اقتصاد کې د بهرني سکتور ځینې ستر بدلونونه رانغاړي.

### ۱.۴ د تادیاتو بیلانس

#### ۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس

د شته شمېرو پر بنسټ، د جاري حساب کسر د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې راکم شوی دی( ۱.۴ جدول).

د جاري حساب په کسر کې د دې بدلونونو ستر لاملونه د توکو او خدمتونو د وارداتو کموالی، د جاري لیږدونو په حساب کې د ډېریدنې زیاتوالی او همدا ډول د پانګه اچونې د عوایدو د کمیدو له کبله د عوایدو په حساب کې د اداینو زیاتوالی ګڼل کیږي. د ټولیزه صادراتو او ټولیزه وارداتو کچې په ترتیب سره د ۴ او ۲۰ سلنې کموالي په درلودلو سره ۱۱۶.۹۹ میلیونه ډالر او ۱،۴۰۲.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي. د وارداتو د کچې په کمیدو سره بهرنیو توکو په ځانګړې توګه پانګه ایزه توکو، صنعتي تولیداتو او نفتو او روغنیاتو لپاره کورنۍ تقاضا کمه شوې ده.

همدا ډول د خدمتونو د حساب کسر د تیر کال د ورته ربعې له ۲۰۲.۳۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۴۸.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکم شوی دی. د خدمتونو د حساب په کسر کې د ټیټوالي اصلي لامل د ټرانسپورټي خدمتونو لپاره د اداینو کموالی دی چې د ارزونې لاندې کال کې ۱۹۳.۸۶ میلیونه ډالرو ته رسیږي او د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې د ۲۵۵.۲۹ میلیونه ډالرو په پرتله ۲۴ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د عوایدو حساب د اداینو بیلانس د ارزونې لاندې کال کې ۲۲۹.۹۷ میلیونه امریکایي ډالره کسر ثبت کړی دی. د عوایدو په حساب کې د دې کسر عمده لامل بهرنیو پانګه اچوونکو ته د وېشل شویو ګټو اداینې ګڼل کیږي.

په ورته وخت کې د جاري لیږدونو د حساب ډېریدنه د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالی لري. د جاري لیږدونو په ډېریدنه کې له بهرنیو هېوادونو څخه د کارګرانو د معاشونو کچه تر ټولو زیاته یعنې ۱۵۰ سلنې ته رسیږي. د جاري حساب په ډېریدنه کې د هېوادونو ترمنځ بسپنې هم ۱۵ سلنه مثبته زیاتوالی په ګوته کوي.

۱.۴ ګراف: د جاري حساب د اداینو بیلانس
(په میلیون امریکایي ډالر)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

#### ۲.۱.۴ پانګه ایز حساب

د پانګه ایزه حسابونو د اداینو بیلانس د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۳۰ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي ( د لا وضاحت لپاره ۱.۴ جدول او ۲.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د پانګه ایزه حسابونو خالصه جریانونه د تیر کال د دویمې ربعې ۳۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال

په دویمه ربعه کې ۲۳۴.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته کم شوي دي چې د دې کموالي اصلي لامل د دولت، شرکتونو او کورنیو لخوا د خالصه پانګې په لیږدونه کې د ۱۰۹.۲۸ میلیونه امریکایي ډالره کموالی دی.

۲.۴ ګراف: د پانګه ایز حساب بیلانس




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۳.۱.۴ مالي حساب

د مالي حساب د ادایینو بیلانس (BOP) د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې د ۸۴.۴۷ میلیونه ډالره خالصه داخلي جریان په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲۱۳.۷۰ میلیونه ډالره خالصه بهرنی جریان ثبت کړی دی (د لا وضاحت لپاره ۱.۴ جدول او ۳.۴ ګراف وګورئ). د شمېرو شننه ښکاره کوي چې د هېواد د ټولیزه شتمنیو ـ د افغانانو لخوا د طلباتو کچه – د ارزونې لاندې کال کې ۹۱.۰۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۲۰.۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

د بهرنیو مالي شتمنیو ناټولیزه شننه ښیي چې له هېواد څخه بهر بهرنی مستقیمې پانګونې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۱.۵۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۳۳.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۵ سلنه کموالی ښکاره کوي. د پورتفولیو داخلي پانګونې د ۱۳۹۵مالي کال په دویمه ربعه کې ۳۹.۱۵ میلیونه ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۳۶.۵۵ میلیونه ډالرو په پرتله ۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول ټولیزه مالي پوراینې د تیر کال د ورته ربعې د منفي ۱۲.۹۸ میلیونه ډالره ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴۴۶.۴۴ میلیونه ډالره ثبت شوي دي. د مالي جریانونو د کمیدو اصلي لامل په هېواد کې د نا امنۍ له کبله د ټولیزه پوراینو زیاتوالی په ګوته شوی دی.

۳.۴ ګراف: د مالي حساب بیلانس




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۴.۱.۴ د توکو سوداګري (د مال التجاره/ سوداګرۍ)

د ربعې په ربعې پرتلې له مخې، شته شمېرې ښیي چې د افغانستان د سوداګرۍ بیلانس د صنعتي تولیداتو او پانګه ایزه توکو د وارداتو له پام وړ کموالی وروسته د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ښه شوی دی (۲.۴ جدول، ۵.۴ ګراف).

د توکو د ټولیزه صادراتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۱۳.۷۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې د ثبت شوي ۱۱۶.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲ سلنه کموالی په ګوته کوي. د توکو د صادراتو د کمیدو اصلي لامل د طبي بذرونو، غالیو

او ټغرونو کموالی په ګوته شوی دی.

د توکو د ټولیزه وارداتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱،۴۶۴.۴۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې د ثبت شوي ۱،۹۱۵.۸۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۴ سلنه کموالی ښکاره کوي.

په پایله کې د سوداګرۍ کسر د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱،۳۵۰.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱،۷۹۹.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۲۵ سلنه کموالی ښکاره کوي.

**۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او د سوداګرۍ بیلانس(په میلیون ډالر)**




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۴ د سوداګرۍ لوری

د افغانستان د صادراتو لپاره عمده هېوادونه پاکستان، ایران، هند، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي.

د توکو د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ، د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د افغانستان د صادراتو تر ټولو لوی شریک پاکستان دی. پاکستان ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو کچه له ۴۷.۲۶ سلنې څخه ۶۱.۳۳ سلنې ته لوړه شوې ده.

د ارزښت له مخې پاکستان ته د افغانستان د صادراتو کچه ۶۹.۷۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې د ۵۴.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې هند د افغانستان د صادراتو دویم ستر پیریدونکی هېواد دی. هند ته د افغانستان د صادراتو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې له ۱۳.۵۱ سلنه ثبت شوې کچې څخه ۱۷.۱۶ سلنې ته زیاته شوې ده.

هند ته د ټولیزه صادراتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۱۹.۵۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۵.۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان د صادراتو دریم ستر پیریدونکي د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي. د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) ته د افغانستان د صادراتو ونډه د تیر کال د ورته ربعې له ۱۲ سلنه ثبت شوې کچې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې شاوخوا ۴ سلنې ته کمه شوې ده. د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو(CIS) ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴.۳۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې د ۱۳.۷۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۶.۴ ګراف: د صادراتو لورى (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴ مالي کال دویمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

پاکستان د افغانستان لپاره د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د وارداتو تر ټولو ستره سرچینه ده. له پاکستان څخه د ټولیزه وارداتو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې له ۲۴.۶۱ سلنې څخه د ارزونې لاندې ربعه کې ۲۹.۳۶۸ سلنې ته زیاته شوې ده. په همدې ترتیب افغانستان ته د پاکستان د وارداتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴۳۴.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د دویمې ربعې د ۴۷۱.۴۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ایران، د افغانستان لپاره دویمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي. افغانستان ته د ایران د ټولیزه وارداتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۱۹.۳۸ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲۸۳.۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۲۳.۶۸ سلنه ونډې او ۴۵۳.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.

چین، د افغانستان لپاره د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د وارداتو دریمه ستره سرچینه ده. د چین ټولیزه واردات د ۱۵.۹۲ سلنه ونډې په درلودلو سره ۲۳۳.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۳.۲۶ سلنې ونډې او ۲۵۳.۹۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه کموالي ښکاره کوي.

د ګڼو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې افغانستان لپاره څلورمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي. افغانستان ته د ګڼو ګټو د خپلواکه هېوادونو (CIS) ټولیزه واردات د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۱۴ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲۰۶.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي په داسې حال کې چې د ټولیزه وارداتو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په دویمه ربعه کې د ۱۷.۴۲ سلنه ونډې په درلودلو سره ۳۳۳.۶۵ میلیونه امریکایي ډالره وه چې په ټولیزه وارداتو کې ۳۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

جاپان، هند او د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان لپاره په ترتیب سره پنځم، شپږم او اووم ستر وارداتي هېوادونه دي. په ټولیزه وارداتو کې د دې هېوادونو د وارداتو کچې په ترتیب سره ۲.۷۶ سلنه، ۲.۱۱ سلنه او ۱.۴۴ سلنې ته رسیږي.

۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۵ مالی کال دویمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالی کال دویمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۳.۴ د سوداګرۍ ترکيب

### ۱.۳.۴ د وارداتو ترکيب

د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې د وارداتو ترکيب ښکاره کوي چې؛

- د پانګه ايزه توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې ۴۳.۵ سلنې ونډې په درلودلو سره تر ټولو ستره برخه جوړوي چې د پانګه ايزه توکو د وارداتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۶۳۶.۸۱ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۹۵۶.۲۴ ميليونه امريکايي ډالرو ثبت شوي کچې په پرتله ۳۳ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په اوږدو کې د وارداتو په ټوکرۍ کې دويمه لويه ونډه مصرفي توکو ثبت کړې ده چې کچه يې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې له ۱۹.۹ سلنې څخه ۲۷.۸ سلنې ته زياته شوې ده. همدا ډول د مصرفي توکو د وارداتو لګښت کچه هم د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۴۰۷ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې د ۳۸۱.۲۱ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۷ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.
- د نفتو او روغنياتو(پټروليم) واردات د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې دريمه لويه ونډه جوړوي چې د نفتو او روغنياتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۰.۹ سلنه کموالی لري. په ټوليزه وارداتو کې د دې توکو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۲۷۴.۴۷ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال په دويمه ربعه کې د ۳۴۰.۱۵ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۱۹ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- همدا ډول د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د صنعتي موادو کچه چې د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو لږه ونډه لري، د ۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې له ۱۲.۴ سلنې څخه ۱۰ سلنې ته راټيټه شوې ده. د صنعتي موادو د وارداتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۱۴۶.۱۶ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې د ۲۳۸.۲۴ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۳۹ سلنه د پام وړ ټيټوالی ښکاره کوي.

د لا وضاحت لپاره د ۳.۴ ـ ۴.۴ جدولونه او ۹.۴ـ۱۰.۴ ګرافونه وګورئ.

۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکيب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴ مالي کال دويمه ربعه




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکيب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال دويمه ربعه




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۳.۴ د صادراتو ترکيب

د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې د صادراتو ترکيب ښکاره کوي چې؛

- خوراکي توکو، د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو لويه برخه درلوده چې کچه يې د ۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې له ۳۳ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۴۰ سلنې ته زياته شوې ده.
- د خوراکي توکو (تيلي بذرونو، تازه او وچې مېوو) د صادراتو عوايد د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۴۵.۶۶ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۳۸.۵۰ ميليون امريکايي ډالرو په پرتله ۱۹ سلنې زياتوالی ښکاره کوي.

د ټوليزه صادراتو دوېمه ستره ونډه طبي بذرونه ثبت کړې ده، په داسې حال کې چې دا ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې له ثبت شوې ۳۹.۹ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په همدې ربعه کې ۲۵.۵ سلنې ته راټيټه شوې ده. خو د ارزښت له مخې د طبي بذرونو د صادراتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۲۸.۹۸ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې د ۴۶.۳۶ ميليونه امريکايي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۳۷ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

همدا ډول غالۍ او ټغرونه چې په تيرو څو لسيزو کې يې د افغانستان د صادراتو بنسټيزه برخه جوړوله، په ټوليزه صادراتو کې دريمه ستره برخه لري. د غالۍ او ټغرونو ونډه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې شاوخوا (۲۰ سلنه) ثابته پاتې ده. د غاليو او ټغرونو د صادراتو عوايد د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۲۲.۷۲ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۲۳.۱۳ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۲ سلنه کموالی په ګوته کوي.

د څرمنو او وړيو کچه چې د افغانستان د صادراتو د ټوکرۍ په وروستي رديف کې راځي، د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې له ۷ سلنې څخه ۱۴.۴ سلنې ته زياته شوې ده.

همدا ډول د څرمنو او وړيو د صادراتو عوايد د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۱۶.۳۹ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۸.۲۳ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله شاوخوا دوه چنده زياتوالی ښکاره کوي.

(۱۱.۴ او ۱۲.۴ ګرافونه) د ۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې او د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې د صادراتو ترکيب ښکاره کوي.

۱۱.۴ ګراف: د وارداتو ترکيب (د ونډې سلنه)،
د ۱۳۹۵ مالي کال دويمه ربعه




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۲.۴ ګراف: د وارداتو ترکيب (د ونډې سلنه)،
د ۱۳۹۴ مالي کال دويمه ربعه




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۴.۴ بهرنۍ پورواينې

۵.۴ جدول او ۱۳.۴ ګراف ښکاره کوي چې د افغانستان ټوليزه بهرنۍ پورواينې (بدهي) د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۲،۴۱۷.۹۴ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د

۱۳۹۴ مالي کال د دويمې ربعې د ۲،۲۸۱.۳۰ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله شاوخوا ۶۵ سلنه يا ۱۳۶.۶۴ ميليونه امريکايي ډالره زياتوالی ښکاره کوي. د ټوليزه بهرنيو پورباينو د زياتيدو مهم لاملونه په اوږد مهاله ډول د بهرنی سوداګری د پور په ادايني، د خالصه نړيواله شتمنيو (NIR) د امانتونو او د برداشت په ځانګړې حقونو (SDR) کې زياتوالی ګڼل کيږي. د برداشت ځانګړي حقونه (SDR) د پيسو د نړيوال صندوق (IMF) لخوا ټاکل کيږي.

افغانستان د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې نړيوال بانک، د آسيا پرمختيايي بانک (ADB)، د پيسو نړيوال صندوق (IMF) او بلغاريا ته د پور د اصلي مبلغ بيا اداينه کړې ده. حال دا چې نړيوال بانک او د آسيا پرمختيايي بانک (ADB) ته د خدمتونو لګښتونه، هم تاديه شوی دی.

په ورته وخت کې افغانستان ته د ستر څو اړخيزه پور ورکونکي په توګه نړيوال بانک د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د ځينو اصلي پورونو ترڅنګ د خدمتونو لګښتونه هم بخښلي دی.

سربېره پر دې، د پاريس کلب له غړو پرته لکه (پرمختيا لپاره د سعودي صندوق، بلغاريا، د کويټ صندوق او ايران) د پور ورکونې کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۳۳۸.۴۱ ميليونه امريکايي ډالرو ته زياته شوې ده.

د پاريس کلب پور ورکوونکو Paris Club Creditors ته د ټوليزه ورکول کيدونکو پورونو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۹۰۸.۴۱ ميليون امريکايي ډالرو ته رسېږي چې د روسيې فدراسيون ته ورکول کيدونکي دي. په بله وينا، افغانستان ته کوم پورونه چې د پاريس کلب غړو ورکړي د ټولو جاري بهرنيو پورونو شاوخوا ۳۷ سلنه جوړوي او د تير کال د دويمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کاله په دويمه ربعه کې ۲ سلنه کموالی لري.

له بلې خوا، افغانستان ته د څو اړخيزو کريډيټونو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۱،۱۷۱.۳۰ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۱،۲۶۴.۹۸ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله د ۷ سلنه کموالي په درلودلو سره د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې په ټوليزه پوراينو کې ۴۴.۳ ميليونه امريکايي ډالرو ټيټوالی ښکاره کوي.

۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پوراينې پرتله کول: د ۱۳۹۴ کال دويمه ربعه او د ۱۳۹۵ کال دويمه ربعه




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۵.۴ خالصه نړيواله زېرمې

د شته شمېرو پر بنسټ، خالصه نړيواله زېرمې(NIR) د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۶،۷۱۱.۷۲ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ثبت شوې ۶،۸۳۱.۴۳ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۲ سلنه ډېر کم ټيټوالی ښکاره کوي(د لا وضاحت لپاره ۷.۴ جدول او ۴.۱۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د خالصه نړيواله زيرمو (NIR) د کچې د ټيټيدو عمده لامل د شتمنيو د زېرمو کموالی په ګوته شوی چې د ۱۳۹۵ مالي کال په دويمه ربعه کې ۷،۲۸۱.۶۵ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې ۷،۳۴۵.۹۶ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۱ سلنه کموالی لري.

همدا ډول د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې د پوراینې د زېرمو کچه ۵۶۹.۹۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې د ۵۱۴.۵۳ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۱۱ سلنه زیاتوالی ښیي؛ دا شمېرې ښکاره کوي چې د پوراینې د زېرمو د کچې په پرتله د شتمنیو د زېرمو کچه لوړه ده. د پوراینو زېرمو د کچې د زیاتیدو اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه په ګوته شوي چې کچه یې د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۴۹۴.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ثبت شوې ۴۱۴.۳۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۱۹.۲۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له تمویلي منابعو څخه د ګټې اخیستنې کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۷۵.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۲۴.۴۶ سلنه ټیټوالی په ګوته کوي.

په بهرنیو اسعارو کې د نامیشتو امانتونو د پوراینې د زېرمې کچې د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې هیڅ ډول بدلون نه دی موندلی.

اوس مهال، خالصه نړیواله زېرمې(NIR) په منځنۍ ډول شاوخوا د ۱۴ میاشتو وارداتو لپاره بسنه کوي، په داسې حال کې هغه هېوادونه چې د خپلو زېرمو له لارې د ۶ میاشتو واردات ترسره کولای شي د خپلو زېرمو له نسبتاً ښه وضعیت څخه خوښ ښکاري.

۱۴.۴ ګراف: د تیرو ربعو په اوږدو کې خالصه نړیواله زېرمې
( په میلیونه ډالر)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۱.۴ جدول: د افغانستان د اداینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)

| اقلام/کلونه | ۱۳۹۴ لومړی ربعه | ۱۳۹۴ دوېمه ربعه | ۱۳۹۴ درېمه ربعه | ۱۳۹۴ څلورمه ربعه | ۱۳۹۵ کال لومړی ربعه | ۱۳۹۵ دوېمه ربعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جاری حساب | - 813.69 | -1140.66 | -1748.00 | -1066.56 | -1190.18 | - 916.35 |
| کریډېټ | 1244.51 | 1054.27 | 990.80 | 812.58 | 793.04 | 1108.66 |
| ډېبټ | -2058.20 | -2194.93 | - 2738.80 | -1879.14 | - 1983.22 | - 2025.01 |
| د توکو حساب | -1500.51 | -1625.15 | - 2042.63 | - 1288.93 | - 1482.22 | - 1285.14 |
| کریډېټ | 128.89 | 121.96 | 162.90 | 166.24 | 133.92 | 116.99 |
| ډېبټ | -1629.41 | -1747.10 | -2205.53 | -1455.17 | - 1616.14 | -1402.13 |
| دخدمتونو حساب | -102.30 | - 202.30 | - 200.80 | - 224.01 | - 184.31 | -148.62 |
| کریډېټ | 264.48 | 190.39 | 279.20 | 133.31 | 131.54 | 147.93 |
| ډېبټ | -366.78 | -392.69 | - 480.00 | - 357.33 | -315.85 | - 296.55 |
| د عوایدو حساب | 72.71 | 48.19 | 37.34 | 21.72 | - 6.82 | - 229.97 |
| کریډېټ | 107.12 | 68.88 | 63.58 | 47.40 | 14.08 | 37.74 |
| ډېبټ | - 34.41 | - 20.69 | - 26.24 | - 25.68 | - 20.89 | - 267.71 |
| جاري لیږدوني | 716.42 | 638.59 | 458.09 | 424.66 | 483.17 | 747.38 |
| کریډېټ | 744.02 | 673.04 | 485.12 | 465.63 | 513.51 | 806.01 |
| ډېبټ | - 27.60 | -34.45 | -27.03 | -40.96 | - 30.34 | -58.63 |
| پانګه ایز او مالي حسابونه | 178.04 | 251.52 | 518.76 | 595.60 | - 36.77 | 448.21 |
| پانګه ایز حساب | 271.69 | 336.00 | 294.92 | 504.57 | 127.74 | 234.51 |
| کریډېټ | 279.25 | 349.52 | 305.29 | 504.97 | 130.65 | 237.36 |
| ډېبټ | -7.56 | -13.52 | -10.38 | - 0.41 | - 2.91 | - 2.85 |
| پانګه ایزې لیږدوني | 278.32 | 346.64 | 304.25 | 504.57 | 130.65 | 237.36 |
| کریډېټ | 279.24 | 349.19 | 305.24 | 504.97 | 130.65 | 237.36 |
| ډېبټ | - 0.93 | - 2.55 | - 0.99 | - 0.41 | 0.00 | 0.00 |
| مالي حساب | - 93.65 | - 84.47 | 223.84 | 91.04 | - 164.52 | 213.70 |
| مستقیمه پانګونه | 17.80 | 33.18 | 77.98 | 40.20 | 17.74 | 21.54 |
| د پورټوفولیو پانګونې | - 14.82 | - 36.55 | - 15.83 | -14.31 | -18.47 | - 39.15 |
| شتمنی | - 14.82 | - 36.55 | - 15.83 | - 14.31 | - 18.47 | - 39.15 |
| پوراینې | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| نورې پانګونې | 43.74 | - 33.37 | - 80.79 | - 0.37 | - 63.70 | 537.52 |
| شتمنی | 53.87 | - 20.39 | - 97.22 | - 0.38 | - 87.19 | 91.08 |
| پوراینې | - 10.13 | - 12.98 | 16.44 | 0.01 | 23.49 | 446.44 |
| د زیرمو شتمنی | - 140.36 | - 47.73 | 242.48 | 65.52 | -100.09 | - 306.21 |
| خالصه خطاګانې او تېروتنې | - 635.65 | - 889.13 | - 1229.24 | - 470.95 | - 1226.95 | - 468.14 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر)

| کلونه | ۱۳۹۱ مالي کال | | ۱۳۹۲ مالي کال | | ۱۳۹۳ مالي کال | | ۱۳۹۴ دویمه ربعه | | ۱۳۹۵ دویمه ربعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ټولیز | ونډه (سلنه) | ټولیز | ونډه (سلنه) | ټولیز | ونډه (سلنه) | ټولیز | ونډه (سلنه) | ټولیز | ونډه (سلنه) |
| واردات | 6,419.67 | 100 % | 9,339.60 | 100 % | 7,294.63 | 100 % | 1,915.84 | 100 % | 1,464.49 | 100 % |
| صنعتي مواد | 969.88 | 15.1 % | 1,272.14 | 13.6 % | 863.19 | 11.8 % | 238.24 | 12.4 % | 146.16 | 10.0 % |
| نفت او روغنیات | 1,083.65 | 16.9 % | 2,167.37 | 23.2 % | 1155.94 | 15.8 % | 340.15 | 17.8 % | 274.47 | 18.7 % |
| مصرفي توکي | 1,255.48 | 19.6 % | 1,942.85 | 20.8 % | 2345.86 | 32.2 % | 381.21 | 19.9 % | 407.05 | 27.8 % |
| پانګه ایزې توکي او داسې نور | 3,110.66 | 48.5 % | 3,957.24 | 42.4 % | 2,930 | 40.2 % | 956.24 | 49.9 % | 636.81 | 43.5 % |
| صادرات | 261.63 | 100 % | 499.81 | 100.0 % | 620.88 | 100 % | 116.22 | 100 % | 113.75 | 100 % |
| غالي او ټغرونه | 8.43 | 3 % | 85.49 | 17.1 % | 87.0 | 14.0 % | 23.13 | 19.9 % | 22.72 | 20.0 % |
| خوراکي توکي | 104.23 | 40 % | 175.92 | 35.2 % | 272.13 | 43.8 % | 38.50 | 33.1 % | 45.66 | 40.1 % |
| څرمن او وړی | 26.82 | 10 % | 59.54 | 11.9 % | 49.35 | 7.9 % | 8.23 | 7.1 % | 16.39 | 14.4 % |
| طبي بذرونه او داسې نور | 122.15 | 47 % | 178.86 | 35.8 % | 212.36 | 34.2 % | 46.36 | 39.9 % | 28.98 | 25.5 % |
| د سوداګرۍ بیلانس | - 6,158.04 | | - 8,839.79 | | - 6,673.75 | | - 1,799.62 | | - 1,350.74 | |
| د کورني ناخالصه تولیداتو د ونډې په توګه د سوداګرۍ بیلانس | - 31 % | | - 43 % | | - 31 % | | - 8 % | | | |

سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

۳.۴ جدول: د بهرنی سوداګرۍ لوری، ۱۳۹۵ مالي کال دويمه ربعه (په ميليون امريکايي ډالرو)

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګری بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 69.76 | 61.33 % | 434.69 | 29.68% | -364.93 |
| هند | 19.52 | 17.16% | 30.91 | 2.11% | -11.39 |
| ايران | 8.80 | 7.74 % | 283.86 | 19.38% | - 275.06 |
| جرمني | 0.93 | 0.82 % | 3.86 | 0.26 % | -2.93 |
| چين | 1.40 | 1.23 % | 233.18 | 15.92 % | -231.78 |
| بريتانيا | | 0.00 % | 1.54 | 0.11% | -1.54 |
| سعودي عربستان | 0.69 | 0.61 % | | 0.00% | 0.69 |
| امريکا | | 0.00 % | 21.06 | 1.44% | - 21.06 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | 4.34 | 3.82 % | 206.23 | 14.08% | - 201.89 |
| جاپان | | 0.00 % | 40.44 | 2.76% | - 40.44 |
| نور هېوادونه | 8.31 | 7.31 % | 208.72 | 14.25 % | -200.41 |
| ټولیز | 113.75 | 100 % | 1,464.49 | 100 % | (1,350.74) |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۴.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری، ۱۳۹۴ مالي کال دويمه ربعه (په ميليون امريکايي ډالر)

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګری بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 54.92 | 47.26% | 471.42 | 24.61% | - 416.50 |
| هند | 15.70 | 13.51% | 28.20 | 1.47 % | -12.50 |
| ايران | 13.64 | 11.74% | 453.73 | 23.68 % | - 440.09 |
| جرمني | 0.35 | 0.30% | 9.28 | 0.48 % | - 8.93 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | 13.72 | 11.81% | 333.65 | 17.42 % | -319.93 |
| چين | 4.52 | 3.89 % | 253.95 | 13.26 % | -249.43 |
| سعودي عربستان | 0.13 | 0.11% | | 0.00 % | 0.13 |
| جاپان | | 0.00% | 85.95 | 4.49 % | -85.95 |
| بريتانيا | | 0.00% | 1.34 | 0.07 % | -1.34 |
| امريکا | | 0.00% | 21.17 | 1.10 % | -21.17 |
| نور هېوادونه | 13.24 | 11.39% | 257.15 | 13.42% | -243.91 |
| ټولیز | **116.22** | **100.00 %** | **1915.84** | **100.00 %** | **-1799.62** |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۵.۴ جدول: بهرنۍ پورواینې: د ۱۳۹۴ مالي کال دويمه ربعه ( په ذکر شوي واحدونو کې)

| | په میلیون ډالر | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|
| ټولیزه بهرنۍ پورواینې | 2,417.94 | 100.00 |
| دوه اړخیزه | 1,246.65 | 51.56 |
| د پاریس کلب | 908.41 | 37.57 |
| د روسيې فدراسيون | 908.41 | 37.57 |
| متحده ايالات | - | 0.00 |
| جرمني | - | 0.00 |
| د پاریس کلب پرته | 338.24 | 13.99 |
| څو اړخیزې ټولنې: | 1,171.30 | 48.44 |
| د پرمختيا نړيواله ټولنه ( نړيوال بانک) | 360.95 | 14.93 |
| د آسيا پرمختيايي بانک | 670.78 | 27.74 |
| د پيسو نړيوال صندوق | 88.33 | 3.65 |
| اسلامي پرمختيايي بانک | 49.44 | 2.04 |
| د اوپک صندوق | 1.80 | 0.07 |

سرچینه: د پوراینې د شتمنیو د مدیریت واحد، د افغانستان د مالیې وزارت

## ۶.۴ جدول: خالصه نړيواله زېرمې؛ د ۱۳۹۴ مالي کال دويمه ربعه (په میلیون امریکایي ډالر)

| د ربعې پر اساس بدلونونه | ۱۳۹۲ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۳ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۴ مالي کال دويمه ربعه | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۵ مالي کال دويمه ربعه | د بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړيواله زېرمې (په میلیون ډالر) | 6,678.62 | 23.22 | 6,693.65 | 0.22 | 6,831.43 | 2.06 | 6,711.72 | -1.75 |
| شتمنه ایزه زېرمې | 7,183.33 | 22.71 | 7,247.76 | 0.90 | 7,345.96 | 1.35 | 7,281.65 | -0.88 |
| د پوراینې زېرمې | 504.71 | 10.91 | 554.12 | 9.79 | 514.53 | -7.14 | 569.93 | 10.77 |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه | 367.65 | 4.00 | 443.80 | 20.71 | 414.35 | -6.64 | 494.22 | 19.28 |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانتونه | 0.14 | -89.57 | 0.14 | -0.02 | 0.14 | 0.00 | 0.14 | -0.03 |
| له تمویلي منابعو څخه ګټه اخیستنه | 136.92 | 17.53 | 110.18 | -19.53 | 100.05 | -9.20 | 75.58 | -24.46 |
| ناخالصه نړيواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | 9.23 | | 11.92 | | 46.01 | | 59.67 | |
| خالصه نړيواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | 8.58 | | 11 | | 11 | | 14 | |

سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

۵

# د مالي سکتور بدلونونه

# ۵
# د مالي سکتور بدلونونه

د ۲۰۱۶ مالي کال په دوهمه ربعه کې د عامه سکتور په ځانګړې توګه د حکومت لخوا د عوایدو د راټولولو په برخه کې ټولیزه کړنې مطلوبه وې.

همدا ډول د افغانستان عامه لګښتونه د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې په اوږدو کې نامتوازنه پاتې شوي دي چې عمده لاملونه یې د خراب امنیتي وضعیت په پایله کې د شخصي پانګونې کموالی، د بودجې په اجراء کې ځنډ او د پانګې تیښته ګڼل کیږي. سربېره پر دې د تدارکاتو اوږده پروسه، د حکومتي ادارو او د تشبثاتو لخوا په وخت راپور نه ورکول یې نور لاملونه دي. دې عواملو د عملیاتي لګښتونو د زیاتوالي ترڅنګ حکومت د مالي ټیکاو په ساتلو کې جدي ستونزو سره مخ کړی دی.

**۱.۵ د بودجې د اجراء نرخ**

د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړي نیمايي په اوږدو کې د حکومت د اجراء ټولیز نرخ د تخصیص شوې بودجې ۲۹ سلنه جوړوي چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله یو شان کړنه ښکاره کوي. د عادي (عملیاتي) بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړۍ نیمايي کې ۳۶ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته مودې د ۳۳ سلنې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د پراختیايي بودجې د اجراء نرخ ۱۷ سلنې ته رسیږي چې د تېر کال د ورته ربعې په پای کې یې د اجرا نرخ ۲۰ سلنه ؤ.

د اصلي بودجې د اجراء په نرخ کې کموالي ډېر لاملونه لري چې ډېر مهم یې د بودجې د تصویب ځنډول، په ولایتونو کې خراب امنیتي شرایط او د بسپنه ورکوونکو د مرستو کموالی ګڼل کیږي.

**۲.۵ د بودجې کسر**

د بسپنه ورکوونکو له مرستو مخکې ټولیزې بودجې د ۱۳۹۵ مالي کال په دوهمه ربعه کې ۳۶.۸۱ ملیارده افغانۍ کسر درلوده، حال دا چې د بسپنو په ګډون بودجې ۲۹.۱۷ ملیارده افغانۍ ډېریدنه وړاندې کوله.

**۳.۵ د عوایدو راټولول**

د ۱۳۹۵ مالي کال په دوهمه ربعه کې راټول شوي کورني عوایدو ۶۹ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي چې د ټولیزه عواید ۴۷.۷۵ ملیارده افغانۍ جوړوي. دا شمېره د ۱۳۹۴ مالي کال د ۲۸.۲۵ ملیارده افغانۍ راټول شویو عوایدو په پرتله ډېره لوړه ده.

سربېره پر دې، د ۱۳۹۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ټولیزه راټول شوي کورني عواید ۶۶.۵۸ ملیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۴۸.۷۸ ملیارده افغانۍ په پرتله ۳۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

په دوهمه ربعه کې د مثبت بدلون عمده لامل په ګمرکونو او د عوایدو په ادارو کې د بنسټیزو سمونونو راوستل ګڼل کیږي.

۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

۲.۵ ګراف: د ټولیزه عوايدو پرتله، ۱۳۹۵ مالي كال دويمه ربعه او د ۱۳۹۴ کال دويمه ربعه (په میلیون)




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست د لوی آمريت محاسبه

## ۱.۳.۵ مالیاتي عواید

ټولیزه راټول شوي مالیاتي عوایدو د ارزونې لاندې ربعه کې وده موندلې ده. د رسیدونو له مخې، ټولیزه مالیاتي عوايد د تېر کال د ورته ربعې د ۱۴.۶۴ میلیارده افغانۍ څخه ۱۷.۷۷ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي دي چې ۲۱ سلنه یا ۳.۱۳ میلیارده افغانۍ د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا رنګه، له ګمرکي محصول څخه ټولیزه راټول شوي مالیات ۴ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۸.۰۱ میلیارده افغانۍ څخه ۸.۲۹ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي دي.




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست د لوی آمريت محاسبه

۴.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو ترکیب




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست د لوی آمريت محاسبه

## ۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید

غير مالیاتي عواید چې د کورني عوایدو عمده برخه جوړوي، ۲۰.۵۱ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۴.۳۴ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۶.۰۹ میلیارده افغانۍ د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د غیر مالیاتي عواید د دې زیاتوالي اصلي لامل د اداري فیسونو، د توکو او خدمتونو د پلورلو او د امتیاز د حق زیاتوالی ګڼل کیږي.

له بلې خوا، استخراجي صنایع، متفرقه عواید او د پانګې له ملکیتونو څخه ترلاسه شوي عواید چې د غیر مالیاتي عوایدو ستره برخه جوړوي، د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې په پرتله کمزوره فعالیت لري.

ټولنيزې بسپنې چې د ټولیزه کورني عوایدو یوازې دوه سلنه جوړوي، ۷ سلنه کموالی ښکاره کوي. ټولیزه راټول شوی عواید د ۱۳۹۴ مالي کال له ۱.۲۶ میلیارده افغانۍ څخه ۱.۱۸ میلیارده افغانۍ ته کموالی ښکاره کوي.

## ۴. د بسپنه ورکوونکو مرستې

د افغانستان حکومت له بېلابېلو بسپنه ورکوونکو او نړیوالو کمیټو څخه په دواړو عملیاتي او پرمختیايي لګښتونو کې د مختلفو پروګرامونو د تمویل په موخه مالي مرستې ترلاسه کوي. ټولیزه مالي مرستې د ۱۳۹۴ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۵ مالي کال کې یو اندازه زیاتوالی ښکاره کوي.

ټولیزه پراختیایي او عملیاتي بسپنې د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۶۶.۵۸ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ۴۸.۷۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳۶ سلنه پام وړ زیاتوالي ښکاره کوي.

په همدې ترتیب، د افغانستان د بیا رغونې د پیسو صندوق پروګرام (ARTF) لاندې ترلاسه شوې بسپنې د ۱۳۹۵ مالي کال په دویمه ربعه کې ۲۲.۰۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۸۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. بر عکس د افغانستان د قانون او نظم لپاره وجهي صندوق (LOTFA) څخه ترلاسه شوي مالي مرستې د ارزونې لاندې ربعه کې ۶.۵۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دویمې ربعې د ۷.۲۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۹ سلنه کموالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې کورني عواید د ټولیزه اصلي بودجې یوازې ۴۲ سلنه جوړوي او پاتې ۵۸ سلنه یې بهرنۍ بسپنې (مالي مرستې) تمویلوي.

۵.۵ ګراف: د ملي بودجې مالي سرچینې، ۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

۶.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې پرتله




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

### ۵.۵ لګښتونه

د ارزونې لاندې ربعه کې ټولیزه لګښتونه ۸۴.۵۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۸۲.۱۹ میلیارده افغانۍ ټولیز لګښت په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۵مالي کال په دویمه ربعه کې عادي لګښتونه ۶۲.۰۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۵۷.۱۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۹ سلنې زیاتوالي ښکاره کوي. له بلې خوا، پراختیایي لګښتونه له ۲۵.۰۳ میلیارده افغانۍ څخه ۲۲.۵۰ میلیارده افغانۍ ته راکم شوي چې د تیر کال د ورته ربعې په پرتله ۱۰ سلنه د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي.

۷.۵ ګراف: د حکومت د ټولیزه لګښتونو ترکیب،
۱۳۹۵ مالي کال دویمه ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

# ۶

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

## ۶

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د بانکي نظام شتمنی د تیرې ربعې (د ۲۰۱۶ کال د مارچ د پای) د ۰.۵۵ سلنه کموالي په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۲.۵۱ سلنه یا ۶.۷۶ میلیارده افغانی ته زیاتې شوي دي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل د بانکي نظام د امانتونو زیاتوالی ګڼل کیږي.

د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورتوفولیو د تیرې ربعې (د ۲۰۱۶ کال د مارچ) د ۰.۶۴ سلنې کموالي په پرتله ۲.۹۷ سلنه یا ۱.۳۴ میلیارده افغانی ته زیاته شوې ده.

په دویمه ربعه کې د پور د پورتوفولیو د زیاتیدو اصلي لاملونه د نوي پورونو صادرونه او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه ګڼل کیږي.

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، ۲۳۸.۲۳ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه پوراینې په سلو کې ۹۶.۰۱ جوړوي. په دویمه ربعه کې د امانتونو کچه شاوخوا ۳.۰۶ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې (۲۰۱۶ مارچ) د ۲.۴۷ سلنه کموالي په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په افغانی د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو د زیاتیدو اصلي لامل د جاري امانتونو زیاتوالی په ګوته شوی دی.

د بانکي نظام ډېری امانتونه په امریکایي ډالرو ۶۶.۱۸ سلنه او ورپسې افغانی امانتونه ۲۸.۸۹ سلنه دي. د بانکي نظام افغانی امانتونه د ۲۰۱۶ کال د مارچ د ۹.۲۷ سلنه کموالي پر وړاندې په سلو کې ۱۴.۸۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، په داسې حال کې چې ډالري امانتونه د ۲۰۱۶ کال په مارچ کې د ۰.۳۸ سلنه کموالي په پرتله په دویمه ربعه کې ۱.۶۶ سلنه راکم شوي دي.

د بانکي نظام پانګې پیاوړی وضعیت درلود او د ۰.۵۲ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۲۷.۷۸ میلیارده افغانی ته رسیږي. د بانکي نظام په مالي پانګه کې د زیاتوالي عمده لامل د تیرې ربعې په پرتله د دویمې ربعې په اوږدو کې د ګټې زیاتوالی ګڼل کیږي. د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (CAR) ۲۰.۶۴ سلنه ثبت شوی دی. د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت له ټاکلي حد څخه پورته دی، خو یو بانک ټاکلي حد ته نږدې او د یو بانک د کفایت نسبت منفی دی.

بانکي نظام د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۳۸۴ میلیونه افغانی خالصه ګټه کړې ده چې د تیرې ربعې د ۲.۹۹ میلیارده افغانی خالصې ګټې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د دې کموالي په پایله کې د شتمنی ترلاسه شوې کلنی ګټه ۲.۴۸ سلنې او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې کلنی ګټه ۲۴.۷۰ سلنې ته رسیږي، حال دا چې د ۲۰۱۶ زیږدیز کال په مارچ کې د شتمنی ترلاسه شوې کلنی ګټه ۴.۴۳ سلنه او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې کلنی ګټه ۴۴.۵۳ سلنه وه. د بانکي نظام د ګټورتیا د کموالي عمده لامل د غیر ګټټانه عوایدو د پام وړ ټیټوالی په ګوته شوی دی چې په یو دولتي بانک پورې اړه لري چې په تیره ربعه کې د پانګه اچول شویو ملکیتونو د بیا ارزښت ټاکنې په پایله کې ترلاسه شوي. دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګو د ارزونې لاندې کال له ګټې سره پای ته رسولی دی.

### ۱.۶ د بانکي نظام شتمنی

د بانکي نظام شتمنی د ۲۰۱۶ کال د مارچ د ۰.۵۵ سلنه کموالي په پرتله د ارزونې لاندې کال کې ۲.۵۱ سلنې ته زیاتې شوي دي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره زیاتیدنه په خزانه کې پیسو او د افغانستان بانک باندې

طلباتو ثبت کړې ده. ټولیزه شتمنۍ ۹.۹۷ میلیارده افغانۍ (۹.۵۰ سلنې) ته زیاتې شوي دي. ورپسې په ترتیب سره پانګه اچونې ۲.۶۷ میلیارده افغانۍ (۱۳.۴۵ سلنه) او ناخالصه پورونو ۱.۳۴ میلیارده افغانۍ (۲.۹۷ سلنه) زیاتوالی موندلی دی. حال دا چې د بانکونو ترمنځ طلبات او ناملموسې شتمنۍ د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې په ترتیب سره ۶.۹۷ میلیارده افغانۍ( ۸.۴۴ سلنه) او ۴۰ میلیونه افغانۍ (۶.۹۵ سلنه) کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورټوفولیو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې/ په د افغانستان بانک باندې طلبات (۴۱.۶۴ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۷.۴۸ سلنه)نګه (خالصه) پورونه (۱۵.۰۲ سلنه)، پانګونې (۸.۱۵ سلنه)، نورې شتمنۍ (۴.۹۸ سلنه) او ثابتې شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو (۲.۵۴ سلنه) جوړوي. د لا وضاحت لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعه وکړئ.

۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنۍ کې د بانکونو د ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ او پوراینې ترکیب**

| په میلیون افغانۍ | ۱۳۹۴ کب<br>۲۰۱۶ مارچ | ۱۳۹۵ غبرګولی<br>۲۰۱۶ جون | | د ټولیزه شتمنیو/<br>پوراینو سلنه | ربعه په ربعه وده |
|---|---|---|---|---|---|
| **شتمنۍ** | | | | | |
| په خزانه کې نغدې پیسې او په د افغانستان بانک باندې | 104,946 | 114,913 | 41.64 | 9.50 | 104,946 |
| طلبات | 82,817 | 75,827 | 27.48 | -8.44 | 82,817 |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | 19,818 | 22,483 | 8.15 | 13.45 | 19,818 |
| پانګونې | 40,486 | 41,443 | 15.02 | 2.36 | 40,486 |
| پورونه (خالصه) | 575 | 535 | 0.19 | -6.95 | 575 |
| ثابتې شتمنۍ | 6,897 | 7,022 | 2.54 | 1.81 | 6,897 |
| نور | 13,666 | 13,744 | 4.98 | 0.57 | 13,666 |
| مجموعه | 269,205 | 275,967 | | 2.51 | 269,205 |
| **پوراینې** | | | | | |
| امانتونه | 231,156 | 238,228 | 95.99 | 3.06 | 231,156 |
| پور اخیستنې | 3,694 | 3,745 | 1.51 | 1.38 | 3,694 |
| نور | 6,672 | 6,211 | 2.50 | -6.91 | 6,672 |
| مجموعه | 241,566 | 248,184 | | 2.74 | 241,566 |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۱.۱.۶ ناخالص پورونه

د بانکي نظام ناخالصه پورونه د تیرې ربعې راهیسې ۱.۳۴ میلیارده افغانۍ یا ۲.۹۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۶.۸۴ سلنه جوړوي. د پور په پورتوفولیو کې د نوي پورونو اداینه او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه د زیاتوالي ستر لاملونه ګڼل کیږي.

سربېره پر دې د پور د پورتوفولیو په ډېرولو کې ۹ بانکونه مخکښه دي، په داسې حال کې چې ۵ بانکونو خپله پورتوفولیو راټیټه کړې ده. همدا ډول پاتې یو بانک ( نوی کابل بانک) په پور ورکولو کې ونډه نه ده اخیستې.

۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د خصوصي بانکونو او دولتي بانکونو د ګروپونو ونډه زیاته شوې ده، حال دا چې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه راکمه شوې ده. خصوصي بانکونو د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د ټولیزې پورتوفولیو د ۹۲.۴۸ سلنې ونډې په لرلو سره ۲.۶۸ سلنه یا ۱.۱۲میلیارده افغانۍ زیاتوالی، دولتي بانکونه د ۶.۳۳ سلنې ونډې په درلودلو سره ۸.۴۲ سلنه یا ۲۲۸ میلیونه افغانۍ زیاتوالی او د بهرنیو بانکونو نمایندګی د پورتفولیو د ۱.۱۹ سلنې ونډې په درلودلو سره ۱.۲۴ سلنه یا ۷ میلیونه افغانۍ کموالی ثبت کړی دی.

### ۲.۱.۶ د پور د زیان زېرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د خطر د کمولو د اړانې له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زېرمو (معیاري شتمنیو) او د ځانګړې تدارکاتو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي.

د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د جون (۱۳۹۵ غبرګولی) په پای کې د بانکي نظام ټولیزه تدارکاتي زېرمې د تیر کال (۲۰۱۶ مارچ) په پای کې د ۱۰.۲۷ سلنې په پرتله د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۰.۸۰ سلنه جوړوي.

### ۳.۱.۶ د کریډېټ ویشنه

د دې لپاره چې د پور د پورتوفولیو کچه پراخه او د خطر متنوع والی ارتوالی ومومي او د نویو عوایدو د ترلاسه کولو سربېره مالي منابعو ته لاسرسی زیات شي، د افغانستان بانک د نورو سوداګریزو پورونو د ویش سکتور په ۳۰ نورو سکتورونو ویشلی دی. په بیلابېلو سکتورونو کې د کریډېټ له تجزیې څخه معلومیږي چې د ۲۰۱۶ کال د مارچ د ۹۲.۸۳ سلنې په پرتله ۹۲.۸۱ سلنه، د پور د پورتفولیو ستره برخه "د نورو سوداګریزو پورونو" په توګه ډله بندي شوی چې په عمده ډول "د تیلو او روغنیاتو" سکتور لپاره (۱۰.۶۶ سلنه)، "ودانیز" سکتور لپاره (۸.۷۹ سلنه)، د "نورو ټولو خدمتونو" د سکتورونو لپاره ( ۸.۴۹ سلنه)، د "پرچونه سوداګری" لپاره (۷.۹۳ سلنه) او د "خوراکي توکو" لپاره (۷.۶۷ سلنه) ځانګړې شوې ده.

د کوچني سوداګرۍ او په ټولو نورو خدماتي سکتورونو کې د ټولیزه ناخالصه پور په دواړه مطلق مبلغ او سلنې کې د پام وړ زیاتوالی لیدل شوی دی، په داسې حال کې چې د عمده پلورنې، روغتیا او حفظ الصحې برخې د تر ټولو ټیټو سکتورونو په ډله کې دي. د کوچني پور ورکونې سکتور لپاره ځانګړي شوي پورونه ۲۱۴ میلیون افغانۍ ته زیات شوي دي چې اوسمهال یې ۳.۶۸ ملیارده افغانۍ د یو بانک لخوا برابریږي. حال دا چې د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو سکتور شاوخوا ۹۰ میلیونه راکم شوی او اوسمهال یې کچه ۲.۰۷ ملیارده افغانۍ ته رسیږي چې د څلورو بانکونو لخوا وړاندې کیږي. د اقتصاد یو څو محدوده سکتورونو ته د پورونو په پام کې نیول، بانکونه په دې سکتورونو کې د کړکیچ د رامنځ ته کیدو پر مهال له خطرونو سره مخ کیږي چې دا کار په ټولیزه بانکي سکتورونو باندې منفي اغیزې پریږدي، د همدې لپاره بانکونه باید د صعب الحصول پور د لوړ نسبت په پام کې نیولو سره د مهمو سکتورونو اړوند احتمالي خطرونه له نږدې څخه وڅاري.

د پورونو شاوخوا ۷۷.۰۸ سلنه لومړی په کابل او بیا په ترتیب سره هرات، بلخ، بادغیس او کندهار ولایتونه کې ورکړل شوي، حال دا چې په نورو ولایتونو کې د پورونو د وېش په تناسب کې انډول په پام کې نه دی نیول شوی. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي. دا به ښه وي چې ټول بانکونه په پور ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

## ۲.۶ جدول: د کریډټ سکټوري وېش

| | د ۱۳۸۸ کب د ۲۰۱۰ مارچ | د ۱۳۸۹ کب (د ۲۰۱۱ مارچ) | د ۱۳۹۰ کب (د ۲۰۱۲ مارچ) | د ۱۳۹۱ لیندی ( د ۲۰۱۲ډیسمبر) | د ۱۳۹۲ لیندی (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | د ۱۳۹۳ لیندی (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) | د ۱۳۹۴ لیندی (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) | د ۱۳۹۵ غبرگولی (د ۲۰۱۶ جون) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملکیتونو او د ودانیزې برخې پورونه | 19.92 | 25.98 | 2.85 | 2.29 | 2.02 % | 1.80 % | 1.90 % | 1.76 % |
| نور سوداګریز پورونه | - | - | - | - | - | | | |
| کان کیندنه | - | 0.02 | 0.72 | 0.11 | 0.07% | | | |
| تولیدات | 1.22 | 2.72 | 13.32 | 11.88 | 9.36 % | | | |
| سوداګري | 32.29 | 34.16 | 27.84 | 28.3 | 29.81% | | | |
| اړیکې | 1.04 | 1.23 | 0.94 | 2.35 | 3.70 % | | | |
| خدمتونه | 4.84 | 6.72 | 11.95 | 15.94 | 22.11% | | | |
| استثناوې | 2.47 | 0.03 | 0.3 | 0.07 | 0.05 % | | | |
| کرنیز پورونه | | | | | | 0.27 % | 0.33% | 0.30 % |
| څاروي او فارمونه | | | | | | 0 % | 0.03% | 0.04 % |
| تولیدات او صنعت ( د فلزونو، لرګیو، پلاستیک او ربړ تولید) | | | | | | 2 % | 4.42% | 4.05 % |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | | | | | | 4% | 4.24% | 4.00 % |
| سمینټ او ودانیز مواد | | | | | | 3% | 1.96% | 1.79 % |
| منسوجات ( نساجي) | | | | | | 2.59 % | 0.52% | 0.65 % |
| برېښنا | | | | | | 0.35 % | 0.22% | 0.51 % |
| ودانیز او تعمیرات | | | | | | 12.52 % | 7.54% | 8.79 % |
| خدمتونه | | | | | | 4.79 % | 3.80% | 3.20 % |
| هوټلونه او ریسټورانټونه | | | | | | 1.20 % | 1.46% | 1.47 % |
| مخابرات | | | | | | 2.92 % | 5.70% | 6.07 % |
| ځمکنی ټرانسپورټ | | | | | | 4.87 % | 5.31% | 5.15 % |
| هوایي ټرانسپورټ | | | | | | 4.18 % | 2.66% | 3.59 % |
| روغتیا | | | | | | 0.71 % | 1.16% | 1.20 % |
| رسنی، اعلانونه، او چاپ | | | | | | 0.04 % | 0.04% | 0.03 % |
| نور ټول خدمتونه | | | | | | 1.41 % | 7.56% | 8.49 % |
| غونډ پلورنه | | | | | | 4.93 % | 9.89% | 4.16 % |
| ماشینونه | | | | | | 0.12 % | 0.25% | 0.35 % |
| نفت او روغنیات | | | | | | 8.74 % | 9.80% | 10.66 % |
| پرزه جات | | | | | | 0.24 % | 1.42% | 0.26 % |
| الکترونیک | | | | | | 1.40 % | 1.58% | 1.83 % |
| سمینټ او نور ودانیز مواد | | | | | | 1.87 % | 2.73% | 2.22 % |
| خوراکي توکي | | | | | | 4.52 % | 8.24% | 7.67 % |
| نور ټول توکي | | | | | | 5.72 % | 3.47% | 4.23 % |
| پرچون پلورنه | | | | | | 3.92% | 3.28% | 7.93 % |
| لارې او ریل پټلی | | | | | | 2.41% | 1.17% | 0.93 % |
| بندونه | | | | | | 0.61% | 0.09% | 0.00 % |
| کانونه | | | | | | 0.08% | 1.48% | 0.44 % |
| نورې بېخبنسټیزې پروژې | | | | | | 1.81% | 2.44% | 2.80 % |
| مالي او پور ورکونکې اداري | | | | | | 0.00 % | 0.00% | 0.00 % |
| کرنیز پورونه | 0.88 | 0.75 | 2.06 | 2.66 | 2.38% | 2.34 % | 2.35% | 2.49 % |
| مصرفي پورونه | 1.33 | 1.01 | 0.82 | 0.74 | 0.24 % | 0.26 % | 0.30% | 0.36 % |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | 7.3 | 8.95 | 15.65 | 14.46 | 10.84 % | 7.14 % | 2.68% | 2.58 % |
| نور ټول پورونه | 3.69 | 10 | 12.65 | 10.71 | 9.41% | 6.68 % | 0.00% | 0.00 % |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

## ۲.۶ د پورونو ډله بندي

### ۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه

بانکونه بايد هڅه وکړي چې د صعب الحصول پورونو د کچې د کمولو او د اعتباري خطر د مديريت لپاره اقدامات پياوړي کړي. صعب الحصول پورونه د ټوليزه ناخالصه پورونو ۱۷.۱۱ سلنه يا د مقرراتي پانګې ۳۳.۲۷ سلنه جوړوي چې دا پورونه په مطلوب وضعيت کې نه ګڼل کيږي. سربېره پر دې، ليدل کيږي چې د کريډټ خطر مخ په زياتېدو دی. د دې بهير په ليدلو سره ويلی شو چې په بانکونو کې د کريډټ د کمزوره کړنو په پايله کې د خطر د مديريت کيفيت هم کمزوره شوی دی. بانکونه مکلف دي چې د پورونو لپاره غوښتنليکونه په دقت سره وارزوي او د پور اخيستونکو مالي حالت له نږدې وڅاري، څو ډاډه شي چې د پورونو په پراختيا سره د مالي نظام ثبات ته کوم زيان نه رسيږي.

د ۲۰۱۶ کال د جون په پای کې صعب الحصول پورونه له پولي پلوه ۱.۰۸ ميلیارده افغانۍ ته زيات شوي دي چې د ټوليزه ناخالصه پورونه ۷.۹۵ ميلیارده افغانۍ يا ۱۷.۱۱ سلنه جوړوي او د بانکي نظام مقرراتي پانګه د تيرې ربعې د ټوليزه ناخالصه پورونو ۶.۸۶ ميلیارده افغانۍ يا ۱۵.۲۲ سلنې په پرتله ۳۳.۲۷ سلنې ته رسيږي. د دې منفي بدلون لوی لامل د پور ټيټ کيفيت ښودل شوی دی. له ۷۳ سلنه زيات صعب الحصول پورونه په دريو سوداګريزو بانکونو پورې تړاو لري چې د بانکي نظام د ټوليزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۶۳.۴۱ جوړوي.

د مالي چارو د څارنې لوی آمريت د بانکي مؤسسو سره په نږدې همکارۍ کې له دې مؤسسو غوښتي دي چې د خلکو د شتمنيو د کيفيت د پياوړتيا لپاره خپل پلانونه طرح او تطبيق کړي. دا وضعيت مقرراتي څارنې او چټکه اصلاحي ګامونو ته اړتيا لري څو د کريډټ د خطر مديريت ته وده ورکړي او د هغو بانکونو پر ګټورتيا او د پانګې کفايت باندې له منفي اغېزو مخنيوی وکړي چې د پور (کريډټ) کيفيت يې کمزوره دی.

د بانکي نظام د صعب الحصول پورونو پراخه وېش ښکاره کوي چې د صعب الحصول پورونو عمده برخه په سوداګريزو پورونو په زياته اندازه د سوداګرۍ، توليداتو او خدمتونو په سکتورونه پورې تړاو لري. د توليداتو، سوداګرۍ او خدمتونو د سکتورونو د پورونو کچه زياته شوې ده، حال دا چې د آسانتياوو او خدمتونو په پورونو کې کموالی راغلی دی.

۳.۶ ګراف: د پورونو د پورټوفوليو کيفيت




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

### ۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعيار، مشکوکه) پورونه د تيرې ربعې د ۵۷۷ ميليونه افغانۍ زياتوالی په پرتله په دويمه ربعه کې ۱۰.۰۳ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د ټوليزه ناخالصه پورونو ۲۱.۵۹ سلنه يا د مقرراتي پانګې ۴۱.۹۳ سلنه جوړوي. دا بدلون د اداري له لوري پياوړي څارنې او

اصلاحي تدبیرونو ته اړتیا لري څو معکوس ډله بندي شوي پورونه مناسبې کچې ته راکم کړي.

### ۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه

تر نظر لاندې کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه ۳.۱۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۶.۸۰ جوړوي او د تیرې ربعې (۲۰۱۶ مارچ) راپدېخوا ۱۰.۵۱ سلنه کموالی ښکاره کوي چې دا کموالی د بانکي نظام په درېو سوداګریزو بانکونو پورې تړاو لري.

تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه دقیقې څېړنې او څارنې ته اړتیا لري ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوک) پورونو ته واوړي او په راتلونکي کې په خساره کټګورۍ کې وشمېرل شي.

### ۴.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه[۳]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۹۵ میلیونه افغانۍ یا ۰.۴۲ سلنه جوړوي چې د تیرې ربعې راهیسې ۱۲۳ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې په زیاته اندازه په پنځو بانکونو پورې تړاو لري.

### ۵.۲.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو تر منځ طلبات چې د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري، د تیرې ربعې ( د ۲۰۱۶ مارچ) راهیسې د ۶.۹۹ میلیارده افغانۍ یا ۸.۴۴ سلنه کموالی په درلودلو سره د ټولیزه شتمنیو ۷۵.۸۳ میلیارده افغانۍ یا ۲۷.۴۸ سلنه جوړوي. د بانکونو ترمنځ طلبات ډېری په لسو بانکونو پورې اړه لري، بانکي نظام هغه مهال د خپلو بانکونو ترمنځ د طلباتو یوه برخه له د افغانستان بانک سره خپل حساب ته لیږدوي چې د شتمنیو د خطر د کچې له کموالي او د سیالیت د وضعیت له پیاوړتیا سره مخ شي، که څه هم د ټولو بانکونو د نقدینه ګۍ نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی چې وروسته بانکي نظام د هېواد د امنیتي او اقتصادي وضعیت د ښه والي په پام کې نیولو سره کولای شي دا شتمنې په لوړه کچه عاید راوړنکو شتمنیو باندې بدلې کړي.

۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو تر منځ د خپل منځي طلباتو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۶.۲.۶ پانګه اچونه

د بانکي نظام د پانګې پورټوفولیو چې په اړوندو کمپنیو کې پور پانګې، دولتي بیه لرونکي پاڼې او پانګه رانغاړي، د تیرې ربعې په پرتله د ۱۳.۴۵ سلنې یا ۲.۶۶ میلیارده افغانۍ زیاتوالی په درلودلو سره ۲۲.۴۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه شتمنیو ۸.۱۵ سلنه جوړوي. د پانګونې په پورټوفولیو کې دا زیاتوالی په پنځو بانکونو پورې تړاو لري. د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له هېواد څخه بهر ترسره کیږي. د پانګونې پورټوفولیو په شپږو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو په دریو نمایندګیو پورې اړه لري.

### ۷.۲.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه

---

(۳) د ۱۳۹۲/۰۹/۱۶ نیټې د ۰۳/۹۲ ګڼې مکتوب له مخې هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکتانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۵۴۰ یا زیاتې ورځې تیرې شوې وي.

شتمنیو بله ستره کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴۱.۶۴ سلنه جوړوي چې د تیرې ربعې (د ۲۰۱۶ مارچ) راهیسې د ټولیزې شتمنۍ په دواړه مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې ۹.۹۷ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زېرمې له مقرري سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو نورو ډولونو کې ځای په ځای کوي.

## ۳.۶ پوراینې

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې ۲۴۸.۱۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې (د ۲۰۱۶ مارچ) د ۲۴۱.۵۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۶.۶۲ میلیارده افغانۍ یا ۲.۷۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له نورو پوراینو او څنډول شویو حسابونو پرته د ټولیزه پوراینو د کټګورۍ نورې برخې د تیرې ربعې په پرتله زیاتې شوې دي. امانتونه د بانکي نظام د پوراینې تر ټولو لویه برخه (۹۵.۹۹ سلنه) جوړوي چې "نورې پوراینې" او "پور اخیستنې" په ترتیب سره دویم او دریم ځای لري. (۵.۶ ګراف)

۵.۶ ګراف: پوراینې ۴.۴۶ میلیارده افغانۍ یا ۱.۸۱ سلنه راکمې شوي دي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۱.۳.۶ امانتونه

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، د ارزونې لاندې ربعه کې ۲۳۸.۲۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۶ کال د مارچ د ۲.۴۷ سلنه کموالي په پرتله ۷.۰۷ میلیارده افغانۍ یا ۳.۰۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي؛ د بانکي نظام د امانتونو د زیاتیدو عمده لامل د افغانۍ د مبادلې د نرخ زیاتوالی دی. د اسعارو شننه ښکاره کوي چې د افغانۍ په امانتونو کې د ۲۰۱۶ کال د مارچ د ۹.۲۷ سلنه کموالي په پرتله ۱۴.۸۸میلیارده افغانۍ زیاتوالی راغلی دی چې د ټولیزه امانتونو ۲۸.۸۹ سلنه جوړوي. حال دا چې په امریکایي ډالرو د امانتونو کچه د ۲۰۱۶ کال د مارچ د ۰.۳۸ سلنه کموالي په پرتله ۱.۶۶ سلنې ته راکمه شوې چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۶۶.۱۸ سلنه جوړوي.

خصوصي بانکونو د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو تر ټولو زیاته برخه ۱۵۴.۴۵ میلیارده افغانۍ راجذب کړې. د خصوصي بانکونو امانتونه د تیرې ربعې د ۳.۷۴ سلنه کموالي په پرتله په دویمه ربعه کې ۲.۲۶ سلنې ته زیات شوي دي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۶۴.۸۳ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د دولتي بانکونو ونډه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ۶۴.۵۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۶ د مارچ د ۲.۹۱ سلنې زیاتوالي په پرتله ۷.۱۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو په سلو کې ۲۷.۱۰ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه ۱۹.۲۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۲۰۱۶ د مارچ د ۷.۸۱ سلنه کموالي په پرتله ۳.۳۴ سلنه کموالی ښکاره کوي او د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۸.۰۷ سلنه جوړوي.

د امانتونو د ډولونو له مخې، د بانکي نظام جاري امانتونه د ټولیزه امانتونو ۷۴.۴۷ سلنه جوړوي چې ۲.۰۷ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره لومړی مقام لري. د بانکي نظام د سپما امانتونه په ټولیزه امانتونو کې د ۴.۲۲ سلنه زیاتوالي او د

۱۹.۲۶ سلنې ونډې په درلودلو سره په دویم مقام کې راځي، حال دا چې د بانکي نظام موديزه (ميعادي) امانتونه، د امانتونو د پورتوفوليو ۶.۲۷ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۶ کال د مارچ راهیسې ۱۲.۱۶ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي.

۶.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکيب




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۷.۶ ګراف: په افغانۍ اېښودل شوي امانتونه




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۸.۶ ګراف: امانتونه ۳.۰۶ سلنه یا ۷.۰۷ میلیارده افغانۍ زیات شوي دي




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۳.۶ پور اخيستنې

د بانکي نظام د تمويل په ټوليزه جوړښت کې د پور اخيستنې ونډه د ۱.۳۸ سلنې زياتوالي په درلودلو سره د ۲۰۱۶ کال د جون په پای کې ۳.۷۵ میلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د تيرې ربعې د ۱۷.۰۱ سلنه کموالي په پرتله د بانکي نظام د ټوليزه پوراينې ۱.۵۱ سلنه جوړوي. اوس مهال د بانکي نظام درې بانکونه پوروړي دي.

### ۴.۶ نقدينه ګی (سياليت)

د نقدينه ګی خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانتونو اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سيالو شتمنيو نه درلودل تعريف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو د نقدينه ګی څخه د راولاړې شويو ستونزو د مخنيوی لپاره سياليت په مطلوب حد کې وساتي.

په همدې ترتيب، بانک بايد د شتمنيو يوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سياستونو په پام کې نيولو سره د نيمګړتياوو د تحليل او تجزيې له لارې د بانک د نقدينه ګی، د حساسيت د ټيسټ، د سناريو د شننې، د نغدي جريان د شننې او داسې نورو له مديريت څخه عبارت دي.

**۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه**

| نسبتونه | (د ۲۰۱۰ مارچ) | (د ۲۰۱۱ مارچ) | (د ۲۰۱۱ مارچ)* | (د ۲۰۱۱ مارچ) | ( د ۲۰۱۲ ډیسمبر) | (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) | (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) | (د ۲۰۱۶ جون) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفایت د نسبت مجموعه | 25.81 | -14.46 | 30.39 | 23.06 | 21.84 | 26.34 | 26.46 | 19.94 | 20.64 |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | 24.19 | -14.51 | 30.29 | 23.98 | 19.97 | 24.65 | 26.09 | 19.66 | 18.64 |
| په ټولیزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | 0.5 | 48.4 | 3.75 | 5.15 | 5.31 | 5.1 | 8.09 | 12.34 | 17.11 |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | 1.41 | - 20.08 | 0.24 | -1.21 | -0.54 | 0.74 | 0.90 | 0.20 | 2.48 |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROE) | 10.35 | - 520.66 | 1.9 | -17.9 | -7.17 | 10.03 | 7.35 | 1.69 | 24.70 |
| د سیالیت نسبت ( پراخه منځنۍ کچه ) | 59.19 | 63.32 | 63.83 | 57.37 | 72.13 | 67.93 | 73.6 | 68.22 | 65.71 |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنې ونډه | 0.38 | 40.58 | 47.01 | 55.82 | 63.75 | 73.18 | 73.28 | 75.05 | 73.27 |

*له کابل بانک پرته

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۱.۴.۶. پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري، د بانکي نظام پانګه ۲۷.۷۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې ربعې په پرتله ۰.۰۰۵۲ سلنه یا ۱۱۴ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام په مالي پانګه کې د زیاتوالي عمده لامل د ګټورتیا زیاتوالی دی.

په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت ۲۰.۶۴ سلنې ته رسیږي. (د زیاتو معلوماتو لپاره ۵.۶ جدول وګورئ).

خو ناټولیزه شننه او تجزیه ښکاره کوي چې د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت پرته له یو بانک څخه د افغانستان بانک د ټاکل شوې تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. خو یو بانک ټاکل شوې حد ته ډېر نږدې دی او د یو بانک د مقرراتي پانګې نسبت منفي دی. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

### ۲.۴.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)

بانکونه مکلف دي چې د نغدي (سیالو) شتمنیو نسبت له ۱۵ سلنې ټیټ ونه ساتي. دا کار د سیالیت د کمیدو د مخنیوی لپاره ښه لاره ګڼل کیږي.

بانکي سکتور د نقدینه ګۍ کچه په ټولیزه توګه په دې دوره کې زیاته شوې ده چې د ټولیزه شتمنیو ۷۳.۲۷ سلنه نغدي شتمنۍ جوړوي. په منځنۍ ډول د ټول بانکي نظام د نقدینه ګۍ کچه ۶۵.۷۱ سلنې ته رسیږي. د ټولو بانکونو د نقدینه ګۍ نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی. ( د زیاتو معلومات لپاره د ۵.۶ جدول ته مراجعه وکړئ)

### ۵.۶ ګټورتیا (نافعیت)

بانکي نظام د ۲۰۱۶ کال د جون په پای کې په ټولیزه توګه ۳۸۴ میلیونه افغانۍ خالصه ګټه کړې ده چې د ۲۰۱۶ کال د مارچ د ۲.۹۹ میلیارده افغانۍ خالصې ګټې په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ګټورتیا کموالی چې د ګټې/زیان په ۵.۶ جدول کې په ګوته شوی، ډېری یې د یو دولتي بانک په غیر ټکټاني عوایدو کې د پام وړ زیاتوالي پورې اړه لري چې په تیره ربعه کې د پانګه اچول شویو ملکیتونو د بیا ارزښت ټاکنې په پایله کې ترلاسه شوي. دا په داسې حال کې ده چې د ارزونې لاندې ربعه کې عملیاتي لګښتونه، د پور د زیان جبران او همدا ډول د خالصه ټکټاني عوایدو زیاتوالی موندلی دی.

په پایله کې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت د تیرې ربعې له ۴.۴۳ سلنې د کال له مخې عیار شوي نرخ څخه ۲.۴۸ سلنې ته او د پانګه اچونکو له پانګې څخه ترلاسه شوي ګټې نسبت له ۴۴.۵۳ سلنه کلني نرخ څخه ۲۴.۷۰ سلنې ته کم شوی دی. (د زیاتو معلوماتو لپاره د ۵.۶ جدول ته ورشئ).

په ټولیزه توګه څلورو بانکونو د ارزونې لاندې ربعه

کې ۳۱۶ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی، حال دا چې د ۲۰۱۶ کال د مارچ په پای کې ۲۶۰ میلیونه افغانۍ زیان د شپږو بانکونو لخوا شوی ؤ.

د اصلي عاید (Core Income) پر بنسټ، درې بانکونه په زیان کې دی، حال دا چې په تیره ربعه کې هم درې بانکونه په زیان کې ؤ.

د ګروپ پراخه شننه ښکاره کوي چې دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ارزونې لاندې کال له ګټې سره پای ته رسولی، حال دا چې خصوصي بانکونو په تیره ربعه کې زیان درلوده. (۱۰.۶ جدول وګورئ).

د بانکي نظام د ګټورتیا تر ټولو ستره برخه دولتي بانکونه جوړوي چې ۲۰۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي او خصوصي بانکونه او د بهرنیو بانکونو نمایندګی په ترتیب سره د ۹۰ میلیونه او ۸۹ میلیونه ګټې په درلودلو سره دویم او دریم ځای لري.

۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا




**۴.۶ جدول: د بانکي نظام ګټه/ زیان**

| | ۱۳۹۴ (د ۲۰۱۵ جون) | ۱۳۹۴ (د ۲۰۱۶ مارچ) | ۱۳۹۵ (د ۲۰۱۶ جون) | د بدلون سلنه (ربعه په ربعه) |
|---|---|---|---|---|
| د ټکتاني عاید | 2,295 | 2,198 | 2,361 | 7.41 |
| د ټکتاني لګښت | 498 | 500 | 433 | - 13.4 |
| د ټکتاني خالص عاید | 1,796 | 1,699 | 1,928 | 13.47 |
| غیر ټکتاني عاید | 1,360 | 4,067 | 2,279 | - 43.96 |
| غیر ټکتاني لګښتونه | 1,325 | 1,327 | 1,453 | 9.49 |
| د معاشونو مصارف | 907 | 911 | 930 | 2.08 |
| کریډیټ (اعتبار) چمتو کول | 1,392 | 455 | 589 | 29.45 |
| له مالیې څخه مخکې ګټه/زیان | (162) | 3,077 | 1,235 | - 59.86 |
| له مالیې څخه وروسته ګټه/زیان | (252) | 2,989 | 384 | - 87.15 |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۱.۶ ګراف: له پانګې ترلاسه شوې ګټه او له شتمنی ترلاسه شوې ګټه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۲.۶ ګراف: نهايي خالصه ټکتانه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۶.۶ د اسعارو خطر**

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې په هغه محدوده کې د بانکونو لخوا په پام کې نیول شوی چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې قرار لری، پرته له پنځو بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (امریکایي ډالرو) له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده.

دغه بانکونه باید د خپل بهرنیو اسعارو پرانیستی وضعیت د افغانستان بانک له ټاکل شوي حد سره برابر کړي؛ که نه نو د پورته ذکر شویو اسعارو په ارزښت کې د ټیټوالي او یا هم د بې ارزښته کیدو له امله به دا بانکونه نور هم زیانمن شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغیزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړیدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۹.۴۶ میلیارده افغانۍ ډیریږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۱.۸۹ میلیارد افغانیو په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې عکس بدلون راوستلی شي.

**۷.۶ د ټکټانې د نرخ خطر**

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د ۳ سلنې نرخ د زیاتوالي (د ټکټانې د زیاتیدونکي نرخ د شاک) له امله ۱.۶۸ میلیارده افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چېرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټیدونکي نرخ شاک) وومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۱.۶۸ میلیارده ټیټ شي. که چیرې د دوو بانکونو د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي دا کار به د ۱۲ راتلونکو میاشتو په ترڅ کې د دې بانک د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي او په بازار کې د نرخونو د ناثاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**مدیره پلاوی**

| | |
|---|---|
| د پولي سیاست د لوی آمریت آمر: | سید اسحاق علوي |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | مرتضی مظفري |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | نایب خان جمال |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | عبدالله مسعود |

**د کارکوونکو ونډه**

| | |
|---|---|
| اقتصادي څېړونکی: | میر توفیق انصاري |
| د بهرني سکتور شنونکی: | ولي الله روحي |
| د پولي سکتور احصائیه پوه: | محمد جواد فریاد |
| د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت | |
| د داخلي برخې مدیره: | انیسه اثیر |
| د حقیقي سکتور شنونکی: | شفیق احمد فقیر زاده |
| د مالي سکتور شنونکې: | زرلشت معصوم |
| ژباړه: | عین الله عیان |
| ایډیټ: | ایمل هاشور، د اسنادو او اړیکو لوی آمر |
| د سمون چارې: | یما عفیف، د خپرونو مدیر |
| ډیزاین: | خالد احمد فیضي |
| عکس: | زیرک ملیا |



د زیاتو معلوماتو لپاره:

| | |
|---|---|
| ټلیفون: | ۰۲۰-۲۱۰-۳۹۳۲ |
| فکس: | +۹۳ (۰) ۲۰۲۱۰۰۳۰۵ |
| برېښنا لیک: | info@dab.gov.af |
| ویب پاڼه: | www.dab.gov.af |
| فیس بوک: | https://www.facebook.com/AFGCentralbank |
| ټویټر: | https://twitter.com/AFGCentralbank |

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت
برېښنالیک: info@dab.gov.af
ټلیفون: ۲۱۰۴۱۴۶ ۲۰ ۹۳+






د اسنادو او اړیکو لوی آمریت
برېښنالیک: info@dab.gov.af
ټلیفون: ۲۱۰۴۱۴۶ ۲۰ ۹۳+